# د وژنو/ نیونو بیه: په ملکي خلکو د شپنیو حملو اغېزې

( OSF -TLO)

## Contents


د وژنو/ نیونو بیه: ....................1.........................................................

په ملکي خلکو د شپنیو حملو اغیزې ..........................1............................

لندیز ....................3.................................................................................

ایساف او د متحده ایالتونو پوځ ته سپارښتنې ........................5......

سریزه ....................8.................................................................................

په پراخه توګه نیونې او پراخ چاپېز عملیات ..........................14..................................

حقوقي (قانوني) اندیښنې : د شپنیو عملیاتو زیاتېدل د ملکي خلکو د نیولو خطر زیاتوي ....................16..........................................................................................................

*د نورو عملیاتو په پرتله د شپنیو عملیاتو د زیان د جبیرې موارد ډېر کم دي* ......................26..........................................................

د دولت او افغاني ټولنې اندیښنې ..........................26...............................................................

د امریکاد متحده ایالتونو ځواکونو( ISAF )ته سپارښتنې ...........37

# لنډیز

د نړیوالو وسله والو ځواکونو له خوا شپني عملیات، وژنې او نیونې په افغانستان کې له ډېر بحث پاروونکی تاکتیکونو څخه دي. دا عملیات چې په څومره اندازه نړیوالو وسله والو ځواکونو ته ارزښتمن دي، افغاني ټولنې ته همغومره نفرت رامنځته کوونکي دي. شپني عملیات د خلکو د وژلو، زخمي کولو او بندي کولو لامل کېږي او په افغاني ټولنه کې یې سخت غبرګون رامنځته کړی دی. د افغانستان دولت او خلکو په تکرار سره د شپنیو عملیاتو غوښتنه کړې ده. نړیوالو ځواکونو ویلي دي چې د شپنیو عملیاتو په اړه اکثرو اندیښنو ته پاملرنه شوې ده چې استخباراتي ښه والی هم په کې شامل دی. دوی باور لري چې شپني عملیات د عامو خلکو د مړینې د کچې راټیټولو یوه لاره او د دوی د نظامي ستراتیژۍ مهمه برخه ده.

د OSF او TLO دفتر د ۲۰۱۰کال په فبروري کې د شپنیو عملیاتو په اړه یوه ژوره څېړنه خپره کړه،[1] چې ترهغې نیټې راوروسته یو شمېر عملیات ښه شوي دي، خو په ټولیزه توګه شپني عملیات څو چنده زیات شوي او اکثره افغانې کورنۍ ورسره مخامخ شوې دي.[2] دا رپورټ د بشري حقونو او سیاست له لیدلوري د دې تغیراتو اغېز ښیي او مرور پرې کوي.

## د شپنیو عملیاتو زیاتېدل غبرګونونه زیاتوي

د شپنیو عملیاتو شمېره اوج ته رسیدلې ده. د ۲۰۰۹ کال د فبروري او د ۲۰۱۰کال د ډسمبر تر منځ تر لاسه شوي امار عاموخلکو ته پنځه چنده زیاتوالی ښیي.[3] دایساف د چارواکو د څرګندونو له مخې د ناټو (نړیوالو سوله ساتو ځواکونو) په مشرۍ په یوه شپه کې په اوسط ډول ۱۹ شپني عملیات ترسره شوې دي، یعنې د ۲۰۱۰ له ډسمبر څخه د ۲۰۱۱ تر فبروري پورې په درې میاشتو کې په مجموعي ډول تقریباً ۱۷۰۰شپني عملیات ترسره شوي دي.[4] ایساف په دې برخه کې نوي ارقام نه دي خپاره کړي. خو هغه مرکې چې د دې رپورټ د چمتو کولو لپاره ترسره شوې دي د شپنیو عملیاتو ډېر زیاتېدل او په پراخه اندازه پراختیا ښیي. د ۲۰۱۱ کال په اپریل کې د امریکا د متحده ایالتونو یو ارشد نظامي سلاکار OSF ته وویل ، کیدای شي چې په ټول افغانستان کې په یوه شپه کې څلوېښت شپني عملیات ترسره کېږي.[5]

د نړیوالو ځواکونو چارواکي استدلال کوي چې په تېر کال کې د شپنیوعملیاتو زیاتوالی د دوی بریالۍ ستراتیژي وه، که څه هم دوی د دې دعوې د تائید لپاره کوم ثبوت وړاندې نه کړ. دوی استدلال کوي چې د شپنیو عملیاتو د کمولو په صورت کې به د مخالفینو حملې په پاموړ توګه زیاتې شي. له دې سره سره دا لاسته راوړنې په ډېره لوړه بیه تر لاسه شوې دي. د شپنیو عملیاتو ستختوالي د جګړې ډګر په مستقیمه توګه د افغانانو کورونو ته وروړی او د افغانستان د خلکو تر منځ یې سخت غبرګون رامنځته

کړی دی. د افغانستان دولت د خپل محدود کنټرول په پام کې نیولو سره شپني عملیات له مخالفینو سره د ملي پخلاینې د هڅو تخریبوونکي او د افغانستان دحاکمیت پر وړاندې ګواښ ګڼلي دي. د شپنیو عملیاتو په اړه شکایتونو د افغانستان د دولت او نړیوالې ټولنې دوستانو سره، په ځانګړې توګه د امریکا له متحده ایالاتو سره اړیکې خړې پړې کړې دي او همدارنګه یې د اوږدې مودې همکارۍ د ستراتیژۍ پر سر بحثونه له ستونزو سره مخ کړې دي.[6]

## په تاکتیکي لارښودونو او نورو ټولو پالیسیو کې د اصلاحاتو اغېز

ایساف بیا بیا د افغانستان د دولت د شپنیو عملیاتو د بندولو او یا کمولو غوښتنې رد کړې دي او د دې په پر ځای یې د شپنیو عملیاتو په ځینو ډېرو ډنډوره شویو شکایتونو تمرکز کړی دی. د ۲۰۱۰ کال له پیله راپه دې خوا ایساف د شپنیو عملیاتو لپاره تکتیکي کړنلاره او لارښودونه خپاره کړې دي. دې لارښودونو پاموړ ښه والی راوستی او د ملکي تلفاتو د کمښت، د اهدافو په غوراوي کې د ډېر دقت، د خلکو په مالي تلفاتو کې د کموالي، په عملیاتو کې افغان امنیتي ځواکونو ته د ډېرې ونډې او له ښځو سره د درناوي چلند کولو لامل شوی دی.
له دې ټولو ښېګڼو سره سره بیا هم دا ټول ښوالی یا ښېګڼې د شپنیو عملیاتو د ډېرښت په اثر کمزورې شوي او یا یې تر سیوري لاندې راغلي دي. که څه هم د استخباراتي رپورټونو ښه والی د دې لامل شوی چې په عملیاتو کې بې ګناه وګړي لږ هدف وګرځول شي خو د شپنیو عملیاتو زیاتوالی خلک تر پخوا ډېر له خطر سره مخامخوي. نور ډېر فعالیتونه هم شته چې په شپنیو عملیاتو کې د ملکیانو د هدف ګرځیدنې لامل کېږي لکه مخالفینو ته ( د هغوی ترفشار لاندې یا بې فشاره) د خوړو او سرپناه چمتو کول. په اکثرو پېښو کې غیر نظامیان یوازې په دې خاطر هدف ګرځول کېږي چې د مخالفینو د فعالیت سیمې ته نږدې وي او یا د مخالفینو د ډلو په اړه اتفاقي معلومات لري، نه په تخریبي عملیاتو کې د اشتراک په خاطر، چې په نتیجه کې هر کال په زرګونو ملکي وګړي نیول کېږي.
سره له دې چې اکثره غیر جنګي بندیان شوي افراد ډېر زر بېرته پرېښودل کېږي خو تلپاتې ناوړه فزیکي اغېزې، مالي او عاطفي زیانونه وراوړي. نړیوال نظامیان په لومړي قدم کې بندیان افغاني توقیف ځایونو ته ورسپاري، هغه ځای ته چې په غالب ګومان هلته په ډېربد وضعیت کې وي، له تهدیدونو او حتی شکنجو سره مخامخ کېږي.
پر دې سربېره، که څه هم ملکي تلفات په پاموړ توګه کم شوي دي خو اوس هم پېښېږي، په ځانګړې توګه ( د دښمنۍ په نیت) د خلکو د اشتباه ډوله تعبیرونو دحرکت په ترڅ کې. پر دې سربېره یو شمېر عملیاتو شفافیت او وړ تصحیح نه درلوده. د بېلګې په توګه کله چې یو شمېر ملکي خلک په تېروتنې سره نیول کېږي، د ایساف له خوا معقوله توجیه نه ورکول کېږي. د شفافیت او حساب ورکولو د نیشتوالي میکانیزم د افغانانو دا انګیرنې نورې هم پیاوړې

کوي چې ګواکې نړیوال ځواکونه دا عملیات د ملکي وګړو د ناحقې وژنې، ځورونې – ربړونې او وېرونې لپاره ترسره کوي.
په نتیجه کې باید ایساف وروستۍ هڅه وکړي چې : ۱) رضایت: پرشپنیو عملیاتو د ډېر کنټرول لرلو لپاره د افغانستان د دولت شکایت. ۲) د ښځو د حجاب او ستر د مسألې د درناوي لپاره د افغاني ټولنې غوښتنه چې د دوی کلتوري حساسیت ته په کې پاملرنه شوې وي، په پام کې ونیسي. له دې سره دې اصلاحاتو د افغانو پر خلاف شپنیو عملیاتو کې ډېر کم تغیر راوستی دی. په ځینو برخو کې یې دلیل دا دی چې مخکې تر مخکې نیول شوي اقدامات لږ او یا د لنډې مودې لپاره وو. د دې اصلاحاتو ستره ناکامي دا وه چې د شپنیو عملیاتو د کمولو یا بندولو لپاره د افغانانو د غوښتنو په ځواب کې دا اصلاحات لږ وو، چې په تکرار سره د افغانستان د ولسمشر حامد کرزي له خوا هم ویل شوې دي.

## ایا شپني عملیات په دومره هیاهیو ارزي؟

بې له شفافیت او مرستندویه شواهدو څخه د شپنیو عملیاتو د ګټو او ډېر لګښت ریښتینې ارزونه ستونزمنه ده. دا ښکاره ده چې په شپنیو عملیاتو کې جزئي او لنډمهاله تاکتیکي بدلون بسنه نه کوي او نه شي کولی په خوښۍ سره د عملیاتو له اصل سره مقابله وکړي. که څه هم د عملیاتو په ترسره کولو کې پاموړ ښه والی راغلی دی خو د خلکو هغه قهر او غوسه چې د عملیاتو د شمېر د زیاتوالي له امله رامنځته شوې، ددې اصلاحاتو له امله رامنځته شوی رضایت یې تر اغېز لاندې راوستی دی. د خلکو او د افغانستان د ادارې سخت مخالفت ته په پاملرنې سره په اوسني سرعت سره د عملیاتو دوام د زغم وړ نه ښکاري. په داسې حال کې چې مخالفې توندلارې ډلې په افغانستان کې د بشري حقونو د تأمین پر وړاندې ستر ګواښ ګڼل کېږي، د مسألې انساني، سیاسي او ستراتیژیک ارزښت چې د دې رپورټ په وسیله یې تصویر وړاندې کېږي دا پوښتنه مطرح کوي چې ایا پر شپنیو عملیاتو افراطي تکیه کول په اوږدمهال کې د دې ګواښ پر وړاندې اغېزمنه لاره ده؟

## ایساف او د متحده ایالتونو پوځ ته سپارښتنې

1 – هغه عملیات ودروئ چې د جنګي افرادو او عامو خلکو تر منځ په کې توپیر نه کېږي. ځان ډاډمن کړئ چې شپني عملیات چې نظامي عملیات دي، یوازې د جنګي افرادو یا هغو ملکي افرادو پر خلاف ترسره کېږي چې په مستقیمه توګه په جګړه کې برخه لري. شپني عملیات وځیرئ او ویې پلټئ څو ډاډمن شئ چې د عملیاتو هدف ملکي افراد نه دي.

2- ځان ډاډمن کړئ چې شپني عملیات، په ځانګړې توګه په شپه کې ډله ییزې نیونې، د جګړې پر بنسټ خلک تر هدف لاندې راولي، نه د سن، جنسیت، قوم او قبیلې، قومي اړیکو یا جغرافیوي موقعیت (سمت) پر بنسټ.

3- ځان باوري کړئ چې شپني عملیات یا نور نظامي تمرینونه جنایي قضیو ته د رسیدو یا د اطلاعاتو راټولولو لپاره بل کوم میتود نه دی. ځان مطمئن کړئ چې هغه عملیات چې د غیر جګړه مارو افرادو د

نیوني لپاره ترسره کېږي د وسلې او قوې د قانوني استعمال له معیارونو سره سم دي.

4- په تاکتیکي لارښودونو کې شامل مواد د امکان تر حده د نیوني لپاره د بدیلې لارې د لټولو په خاطر وکاروئ. هغه نیوني چې د قانون د پلي کیدو له معمولو میتودونو سره سمې وي په داسې سیمو کې غوره ګڼل کېږي چې په هغو کې د دولت قوي کنټرول وي او یا په هغو سیمو کې چې افغاني شریکان (د افغانستان دولت) د ډېرو منظمو نیونو د ترسره کولو لپاره پیاوړی ظرفیت ولري.

5- د شپنیو عملیاتو د سمون په برخه کې د موجوده لارښودونو کاروني ته دوام ورکړئ چې د ملکي تلفاتو د کمولو لپاره یې مطلوبه نتیجه ورکړې وي.

6- له عملیاتو مخکې او وروسته د امکان تر حده له محلي ټولنو سره اړیکې او مشورې زیاتې کړئ.

7- په شپنیو عملیاتو او د ترسره شویو عملیاتو په اړه چې ملکي افراد په کې هدف ګرځیدلي وي، په موجوده معیارونو کې شفافیت ډېر کړئ. حساب ورکوونکي شئ او د نیول شویو کسانو کورنیو ته د هغوی د حالت د څرنګوالي په اړه معلومات ورکړئ او همدارنګه د ملکي تلفاتو په اړه د څېړنو د نتیجو له مخې معلومات خپاره کړئ.

8- د شپنیو عملیاتو له کبله د اوښتو زیانونو د جبیرې او همدارنګه د هغو زیانونو د تاوان معیارونو ته وده ورکړئ چې په تېروتني سره په کې خلک نیول شوې وي.

9- د افغان امنیتي ځواکونو سره د حساب ورکولو په برخه کې کار وکړئ ، په ځانګړې توګه له هغو ځانګړو افغان ځواکونو سره چې د قدرت د انتقال تر دورې وروسته به په شپني عملیاتو کې رغنده رول ولري.

10 - ځان ډاډمن کړئ چې ملیشې یا نورې غیر منظمې قواوې ، د هغوی د نه ژمنتوب، کمزورې حساب ورکونې او بدې سابقې په پام کې نیولو سره له شپنیو عملیاتو څخه د خلکو د ځورونې لپاره کار وانه خلي.

دا رپوټ د افغانستان او پاکستان لپاره د (OSF) د (سیمه ییزې پالیسۍ د نوښت) یوه برخه ده. د سیمه ییزې پالیسۍ نوښت په افغانستان او پاکستان کې کلیدي سیاسي مسألې څاري، چې د اختلافاتو پر بنسټ ملکي تلفات او نیوني په کې شاملې دي. (OSF) یوه غیر دولتي مؤسسه ده چې د فعالې او زغم لرونکې ډیموکراسۍ لپاره په هغو هیوادونو کې کار کوي چې دولت یې خلکو ته ځواب ویونکی وي. (OSF) په محلي سطحه د عدالت، ښوونې او روزنې، عامې روغتیا او رسنیو د ودې په برخه کې نوښتونه عملي کوي.

د اړیکو دفتر (TLO) یوه افغاني نادولتي مؤسسه ده چې غواړي د اړیکو اوسیستماټیکې همغږۍ له لارې د عنعنوي جوړښتونو، محلي ټولنو او د مدني ټولنې له بنسټونو سره محلي حاکمیت، امنیت او ثبات ته وده ورکړي. د اړیکو دفتر په څلورو غټو برخو یعنې څېړنه، د سولې ټینګښت، دعدالت او معیشت جوړونې په برخو کې کار کوي. د اړیکو دفتر پروژې په پورتنیو کاري ساحو کې د بېلابېلو غیر دولتي تمویلوونکو، دولتي سکټورونو، نړیوالو مؤسسو او بېلابېلو تمویلوونکو بنسټونو له خوا تمویلېږي.

*          *          *

# سریزه

شپني عملیات په افغانستان کې بحراني سرحد ته رسیدلي دي. د دې ډول عملیاتو په پېښو کې پاموړ زیاتوالی چې همیش د افغاني ټولنو د ناخوښۍ لامل شوی، د افغانانو غوسه یې اوج ته رسولې ده. تر دې ډول عملیاتو وروسته د خلکو لاریونونه چې کله کله ډېر غټ او اکثره وخت له تاوتریخوالي ډک وي د شپنیو حملو پر وړاندې چې غیر نظامیانو ته زیان په کې وي په یو عادي کار تبدیل شوي دي. د بېلګې په توګه، په تخار ولایت کې شپني عملیات چې څلور کسان په کې وژل شوي وو، پر ضد یې تر دوه زره زیاتو افغانانو په لاریون کې ګډون وکړ چې څو ورځې یې دوام وکړ او د دې لاریون په ترڅ کې دا هڅه هم وشوه چې د نړیوالو ځواکونو پر یوې هډې حمله وکړي.[7]

شپنیو حملو ته په دومره غوسه او دښمنۍ سره کتل کېږي چې حتی په یوه سیمه کې یوه شپنۍ حمله کولی شي په بشپړه توګه د خلکو د باور د جلب لپاره ټولې هڅې تخریب کړي. د OSF په یوې ځانګړې څېړنه کې ترلاسه شول چې شپني عملیات له نړیوالو ځواکونو سره د افغانانو د خصومت په توجیه کولو کې ستر رول لوبوي.[8] نوموړي رپورټ په همدې ډول روښانه کړي چې هغه غوسه چې له عملیاتو راپارېدلې ، د ایساف او امریکا د متحده ایالتونو د ځواکونو هغه هڅې یې تر اغېز لاندې راوستي چې د ملکي تلفاتو د کمښت، سولې او ثبات راوستو لپاره د دوی د ښه نیت له مخې کېږي.

شپنۍ حملې په ځینو ځایونو کې نامشروع او حتی د جنایي اعمالو له ډلې ګڼل کېږي. د اړیکو دفتر د هغې څېړنې له مخې چې د محلي پولیسو د ستراتیژۍ په اړه یې ترسره کړې ده، په پنځو یا شپږو ولایتونو کې سروې شوې چې اوسیدونکو یې شپنیو عملیاتو ته چې د دوی ټولنه ورسره مخامخ شوې ده تر ټولو بد جنایت ویلی دی.[9] لکه څنګه چې یو ننګرهاري په دې اړه د مرکې په ترڅ کې وویل: " دوی دعوه لري چې د ټیرورستانو پر ضد دي، خو کوم کارونه چې دوی کوي هغه په خپله ټیروریزم دی، ځکه چې ټیروریزم خپروي اونور هم ډېر تاوتریخوالی رامنځته کوي."[10]
دا میتود نړیوالو نظامي ځواکونو ته یو کړکیچ رامنځته کوي، په داسې حال کې چې هغوی د شپنیو حملو عدم محبوبیت او دعامو خلکو د ملاتړ له لاسه ورکولو خطر پېژني، بیا هم دې عمل ته د خپلې نظامي ستراتیژۍ د اصلي جزء په سترګه ګوري. دوی استدلال کوي چې شپنۍ حملې د ټیرورستي کړیو له منځه وړلو، نظامیانو ته د ډېر کم خطر او د ډېرو لږو ملکي تلفاتو لپاره تر ټولو اغېزمنه لاره ده. پر دې سربېره شپنۍ حملې د ډېر لږ شمېر نړیوالو ځواکونو په استفاده ترسره کېږي، چې د رزمي انرژۍ په سپما کې تر ټولو مهم عامل شمېرل کېږي.
په نتیجه کې د ناټو تر رهبرۍ لاندې نړیوالو ځواکونو (د اړیکو دفتر او د OSF) په شمول د یو شمېر بنسټونو غوښتنه چې د شپنیو حملو کمول یا بندول وو، رد کړې ده او په بدل کې یې په عملیاتو کې پرتکتیکي تغیراتو تمرکز کړی چې کیدی شي د ډېرو ډنډوره شویو شکایتونو جواب وویلی شي. دا رپورټ ددې ځوابیه ستراتیژۍ اغېزمنتیا تحلیلوي.

دتېر یو نیم کال په اوږدو کې د ایساف ځواکونو په شپنیو عملیاتو کې د تغیر او یا محدودولو په برخه کې ځینې ګامونه اخیستي دي. هغه کلیدي لارښودونه چې د ۲۰۱۰کال له فبروری راپه دې خوا د شپنیو عملیاتو پر پالیسی اغېزمن وو، (OSF) او اړیکو دفتر د رپوټ له مخې په لاندې ډول دي:

- شپنیو عملیاتو ته ځانګړی شوی تکتیکي لارښود چې د ۲۰۱۰کال په جنوری کې خپور شو، عامه نسخه یې د ۲۰۱۰ کال په فبروری کې وړاندې شوه.[11]
- د ۲۰۱۰کال په اګست کې د ملکي تلفاتو د شمېر راټیټولو په اړه یو نوی تکتیکي لارښود خپور شو (عامه یا غیر محرمه نسخه یې وړاندې نه شوه)
- د ۲۰۱۰کال په ډسمبر کې په مشخصه توګه د شپنیو حملو په اړه یو بل تکتیکي لارښود خپور شو. (عامه او غیر محرمه نسخه یې وړاندې نه شوه)[12]
- د ۲۰۱۱په جولای کې په شپنیو حملو کې د ملکي تلفاتو د کمولو په اړه یو نوی تکتیکي لارښود خپور شو(عامه او غیر محرمه نسخه یې وړاندې نه شوه)

پورتني لارښودونه له هغو ډېرو لارښوونو سره چې ځواکونو ته وخت په وخت شوې دي، ملګري وو. یو بل لارښود چې هغه هم شپنیو عملیاتو ته ځانګړی شوی دی، په دې نږدې وختونو کې خپرېږي.

دا رپورټ چې د (OSF) او اړیکو دفتر د ۲۰۱۰کال د څېړنې پر بنسټ ولاړ دی[13]، د شپنیو عملیاتو ډېرښت ته په پاملرنې سره د پورتنیو اصلاحاتو لاسته راوړنې ارزوي. دا رپورټ د یو سیاسي تحلیل په توګه وړاندې کېږي، نه د یوې څېړنیزې سروې په توګه. له همدې کبله په دې تحلیل کې د اړیکو دفتر او (OSF) د هغو څېړنو له منځپانګې ګټه اخیستل شوې چې په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰کلونو کې یې د شپنیو حملو، په پالیسی کې د تغیراتو د څارنې او د بېلګې په توګه د څو نویو حملو د تشریح په اړه ترسره کړې دي.د ۲۰۱۰د اکتوبر او ۲۰۱۱د جولای په اوږدو کې په ننګرهار، کندهار،پکتیا ،ارزګان ،کندز،کونړ او لغمان ولایتونو کې یې د ټولنو له مشرانو، د پېښو له شاهدانو او شپنیو حملو له قربانیانو سره تر ۷۷ زیاتې مرکې کړې دي. پر دې سربېره یې د نړیوالو ځواکونو له مسؤلینو سره د شپنیو حملو د څارونکو د یوې برخې په توګه منظمې جلسې کړي او د نړیوالو ځواکونو له ۹ هغو مامورینو او مشاورینو سره یې مرکې کړي چې د عملیاتو په پلانولو، ترسره کولو او څارلو کې یې رول درلود. همدا راز له ۸ ملي او نړیوالو څارونکو سره هم مرکې شوې دي.

دا رپورټ درې برخې لري. د لومړی برخې موضوع یې د هغو تغیراتو اغېزې څېړي چې د هدف ټاکنې په اړوند له وروستني

رپورټ څخه راوروسته چې په شپنیو حملو کې دقت او قانونیت په کې وو، رامنځته شوی دی. د دویمې برخې موضوع یې هغو شکایتونو ته د پاملرنې هڅه څېړي چې ملکي افرادو ته د زیان اوښتنې، د ملکي افرادو د تلفاتو راکمونې، ملکي افرادو ته د زیان رسونې عوامل او د حساب ورکونې د لارو چارو اغېزمنتیا په کې شامل دي.
د موضوع وروستۍ برخه د ایساف او امریکا د متحده ایالتونو د ځواکونو هغه هڅې څېړي چې د شپنیو حملو د بندولو یا کمولو په اړه د افغانانو د پراخو غوښتنو ځواب، افغان حکومت ته د ډېر کنټرول سپارلو موضوع او د افغانانو کلتوري او مذهبي حساسیتونو ته درناوی په کې دی.

# د اهدافو انتخاب

د (OSF) او اړیکو دفتر په پخواني رپورټ کې په شپنیو عملیاتو کې د نه دقت په ګڼو شکایتونو چې د بې ګناه خلکو د نیولو او د هغوی د کورونو د پلټلو لامل وو ملاحظه شوې ده. تر پخوانیو رپورټونو وروسته یو پاموړ پرمختګ دا دی چې په هدف ټاکنه کې د تېروتنو ډېر کم رپورټونه ورکړل شوې دي. له اکثرو افغانانو سره چې مرکې شوي، ویلي یې دي چې په شپنیو حملو کې مخالفین په پراخه توګه هدف ګرځول کېږي.
له دې وروستي مثبت ګام سره سره، افغانان اوس هم په دې باور دي چې په شپنیو حملو کې بې ګناه خلک هدف ګرځول کېږي. دا ادعا له حقیقته لیرې نه ده ځکه چې ایساف په دې هڅه کې دی چې شپنۍ حملې زیاتې کړي او مخالفین په یوې پراخه دایره کې راتاو کړي او هدف یې وګرځوي، چې دهدف ټاکنې د ستراتیژۍ د پراختیا لامل شوې ده او په نتیجه کې ډېر ملکي افراد چې له مخالفینو سره سطحي اړیکې لري هدف ګرځول شوي او نیول کېږي. پر دې سربېره ډله ییزې نیونې، لکه د یوې کورنۍ ټول ځوان نارینه چې د وسلې ګرځولو توان ولري، یا د عملیاتو په ساحه کې د یو کلي ټول نارینه نیول، د ایساف هغه هڅې تر پوښتنې لاندې راولي چې غواړي وښیي چې عملیات دقیق وو او هدف د مؤثق استخباراتي رپورټ له مخې انتخاب شوی دی.

## أ.په مجموع کې استخبارت اود شپنیو حملو هدف ټاکنه ښه شوي دي

د تېر کال په اوږدو کې په استخباراتي معلوماتو او هدف ټاکنه کې ځیرنه چې له غټو شکایتونو څخه شمېرل کیدل، ښه شوي دي. اوس ایساف دا ادعا کوي چې دوی په لسو ټاکل شویو اهدافو کې اتو مطلوبو اهداو ته رسېږي.[14] سره له دې چې د تېرو کلونو په حملو کې د دقت په اړه امار نشته،هغه مستقل ناظرین او تحلیل کوونکي چې دا ډول واقعات څېړي، موندلې یې ده چې د روایت له مخې په شپنیو حملو کې ښه والی راغلی دی. د ولسمشر کرزي د دفتر رئیس ښاغلي داوډزي د یوې مرکې په ترڅ کې چې د ۲۰۱۱کال په مې کې

ورسره شوې ده، ويلي دي چې په شپنيو حملو کې د تلفاتو د کمښت لامل په حقيقت کې له افغاني مقاماتو سره همغږي ده.[15]
کيدای شي چې دا ښه والی د کشفي الوتکو، د هليکوپټرو حمايتي واحدونو، استراق سمع (غوږنيوني) او نورو ټولو اسخباراتي وسيلو د استفادې له کبله حاصل شوی وي، چې مخکې تر دې په عراق کې تربې ګټه اخيستل شوې ده.[16] د ۲۰۱۰کال په اوږدو کې د عادي او خاصو ځواکونو زياتوالی هم د مخالفينو د فعاليتونو او مخابراتي شبکو د محدودولو او د نړيوالو ځواکونو د استخباراتو د پياوړتيا لامل ګڼل کېږي. پر دې سربېره رپورټونه ښيي چې د معلوماتو ورکوونکو په شمېر کې هم زياتوالی راغلی دی.[17]
د (OSF) او اړيکو دفتر له خوا راټول شوي معلومات څرګندوي چې خلک متوجه شوي دي چې په هدف ټاکنه کې دقت زيات شوی دی.[18] د کندهار په ميرويس مېنه کې يو بزګر سره له دې چې په خپله هم په تېروتنه کې پرې حمله شوې وه، وايي چې په حملو کې دقت زيات شوی دی. هغه وويل: ” فکر کوم چې په شپنيو حملو کې اکثره هغه کورونه د حملې هدف ګرځول کېږي چې طالبان په کې شتون ولري، خو ځيني عام خلک هم په کې وژل کېږي.[19] ځيني هغو کسانو چې مرکه ورسره شوې او کورونه يې په حمله کې هدف ګرځول شوي وو، ويې ويل چې د حملې لپاره علت موجود ؤ، مثلاً په کور کې د ناپېژاندو کسانو شتون چې کيدای شي د مخالفينو له ډلې وو، په کور کې د هغو خپلوانو حضور چې د دولت پر ضد يې تبليغات کول، تر عملياتو څو ورځې يا يوه اوونی وړاندې د مخالفينو اعاشه او اباطه او يا ورسره اړيکې نيول.

## ب. له ښه والي سره سره، اوس هم تېروتنې کېږي

د شپنيو حملو د استخباراتي اطلاعاتو د کيفيت له ودې سره سره، اوس هم تېروتنې کېږي. ايساف وايي په ۲۰٪ شپنيو حملو کې نه دي توانيدلي چې په پام کې نيول شوی نفر ونيسي. کيدی شي دليل يې دا وي چې يا هغه نفر تښتيدلی او يا په هدف ټاکنه کې تېروتنه وه.[20]
د شپنيو حملو په ترڅ کې يو شمېر مشهود ملکي تلفات اوښتي چې په ظاهره د ناسمو استخباراتي اطلاعاتو پر بنسټ وو.[21] د بېلګې په توګه د ۲۰۱۱کال په مې کې د ملي پوليسو يو سرتېری او د هغه يو دولس کلن خوريي هغه وخت ووژل شوه چې په کور يې په تېروتنه کې حمله شوې وه.[22] د ۲۰۱۰ کال په ډسمبر کې د ننګرهار ولايت په سرخرود ولسوالۍ کې يو پلار او د هغه ځوان زوی ووژل شول. د دوی د کورنۍ د غړيو له خولې د يو بل نفر پر ځای په تېروتنه کې وژل شوي دي (ايساف هيڅکله هم نه ده منلې چې په هدف کې يې تېروتنه کړې ده او په دې برخه کې يې هيڅ ثبوت هم وړاندې نه کړ).[23] په عين حال کې د پېښې په ځای کې د وژل شوي شخص له يو بل زوی سره له تاوتريخوالي ډک چلند شوی دی او وروسته بيا يوه شپه او ورځ بندي شوی هم دی. نوموړی وروسته بيا بې له دې چې په خپل جرم پوه شي، خوشې شوی دی. د تحقيق مامور ورته ويلي وو چې ټوله پېښه يوازې او يوازې يوه تېروتنه وه او بس.
په داسې حال کې چې په استخباراتي اطلاعاتو کې رغنده ښه والی کولی شي چې د دې تېروتنو مخه ونيسي خو بيا هم ورځ په ورځ د

عملیاتو د زیاتوالي له امله د دې ډول تېروتنو څخه ډډه کول ناشونې دي. د شفافیت او حساب ورکونې د میکانیزم شتون ډېر مهم دی څو ملکي خلک وکړای شي چې دا ډول پېښې بیان کړي.

### ت. پراخه هدف ټاکنې د ملکي افرادو د پراخې نیونې لامل کېږي

په داسې حال کې چې ملکي افراد د دوی په کورونو د حملې ځینې دلایل پېژني او څرګندوي یې، خو دا په دې معنی نه دي چې دا ډول حملې قانوني دي. د شپنیو حملو د شمېر پر زیاتوالي فشار او هغه فعالیتونه چې له دې فشاره سرچینه اخلي، د ډېرو افغانانو د هدف ګرځونې لامل کېږي. د بهرنیو چارو وزارت یو پخوانی مامور وایي: "قوماندانان تر فشار لاندې دي چې د حملو لپاره هدف ومومي، ځکه چې د ډېرو عملیاتو ترسره کول د بریالیتوب نښه ګڼل شوې ده."[24] په نتیجه کې اکثره شپني عملیات د داسې خلکو د نیونې لامل شوي چې نړیوالو قوانینو هغوی په جګړه کې دخیل یا محارب نه دي ګڼلي. لکه مخالفینو ته په اعاشه او اباطه تورن کسان او یا هغه خلک چې د مخالفینو د فعالیتونو په اړه تصادفي معلومات لري. شپنۍ حملې له یوې مخې بې ګناه خلک هدف ګرځوي چې په صحنه کې شتون لري او په جګړه ییزو فعالیتونو کې مستقیم ګډون نه لري.

## شپني عملیات د مخالفینو د اعاشې او اباطې عاملین هدف ګرځوي

په څو مواردو کې ملکي خلکو شکایت کړی دی چې د مخالفینو لپاره د خوړو او سرپناه د چمتو کولو په سبب (هغه که په جبري او یا خپله خوښه وو) د شپنیو حملو هدف ګرځول شوې دي. د کندهار ولایت د میرویس مېنې یو بزګر چې ۴۱کلن دی له خپل ورور، زوی او څو نورو کسانو سره چې په مېلمستون کې یې وو، بندي شوی دی وایي: " په اخر کې یې مونږ ته وویل چې تاسو طالبان نه یئ خو له طالبانو سره اړیکې لرئ. طالبان هر وخت ستاسو په مېلمستون کې وي، تاسو ډوډۍ ورکوئ او مرسته ورسره کوئ.[25] نوموړی تر څو ورځو وروسته راخوشې شو.

یو بل نفر چې د اکتوبر په میاشت کې په کندز ولایت کې بندي شوی ؤ ویل یې چې امریکایانو له ده نه د طالبانو د ملاتړ او د هغوی په اړه د معلوماتو پوښتنې کولې. ده څرګنده کړه چې : " هغوی ماته وویل چې ته د طالبانو ملاتړ کوې، هغوی ته خواړه او پټنځی ورکوې. په همدې دلیل مو ته نیولی یې چې د ډېرې پلټنې او پوښتیدنې لپاره دې له ځان سره بیایو."[26]

مخالفین د ملکي خلکو له کورونو څخه د پټنځي، خوړو او استوګنې د منبع په توګه استفاده کوي چې دا عمل په نتیجه کې د نړیوالو ځواکونو له خوا پر پټنځیونو باندې د فشار زیاتولو لامل شوی دی. نړیوال ځواکونه په دې موضوع خبر دي خو بیا هم دې ته مایل دي چې په کور کې ټول هغه موجود نارینه چې د جګړې توان لري، ویې نیسي . په داسې حال کې چې ټول د مخالفینو په تور متهم نه وي.[27]

ډېر هغه خلک چې مخالفینو ته د غذا او ځای د چمتو کولو په تور نیول شوي وو وایي ، څرنګه چې د دوی په سیمه کې طالبان تسلط لري، دوی بله چاره نه لرله. هغه سړی چې د ۲۰۱۰کال په اکتوبر کې په کندز ولایت کې بندي شوی ؤ ویې ویل: " په ډاډ سره وایم چې ۹۵٪ خلک طالبانو ته ډوډۍ ورکوي. خلک په دې خاطر طالبانو ته ډوډۍ ورکوي چې هغوی زور لري. هغوی د بېلابېلو خلکو کورونو ته ورځي، چې کله د خپل راتګ په هکله خبر ورکوي او کله ناڅاپي ورځي.[28]

یو بل نفر چې د کندهار ولایت په غورک ولسوالۍ کې په یوه شپنۍ حمله کې نیول شوی ؤ او لس ورځې بندي وو وایي: " درته وایم چې زمونږ ټوله ولسوالي د طالبانو تر کنټرول لاندې ده. هلته حکومت یا امریکایان شتون نه لري. مونږ مجبور یو چې له طالبانو سره په ارتباط کې و اوسو. مونږ د خپلو شخړو د حل لپاره طالبانو ته عریضې وروړو ځکه چې مونږ له کندهار ښاره لیرې یو. طالبان د خلکو کورونو ته ورځي او په زور ترې د غرمې او شپې ډوډۍ خوري. که څوک ډوډۍ ورنه کړي نو له ستونزو سره مخامخېږي.[29]

اکثره ملکي خلک د دواړو خواوو تر منځ راګېر دي. دوی له طالبانو سره له معاملې پرته بله لار نه لري خو دا کار یې له شپنیو حملو سره د مخ کیدو لامل کېږي.[30]

هغه خلک د شپنیو حملو هدف ګرځول کېږي چې په تصادفي توګه د مخالفینو په اړه معلومات لري. په ځینو قضیو کې ملکي خلک مخالفینو ته دخوړو او پټنځي چمتو کولو په خاطر نه دي نیول شوي، بلکې په دې خاطر نیول شوي چې نړیوالو ځواکونو تصور کاوه چې ګواکې دوی د مخالفینو د فعالیتونو په اړه معلومات لري. د بندي کولو اوسنی بهیر ښيي چې د اکثرو شپنیو حملو عامل یوازې د استخباراتي معلوماتو راټولول دي. کله کله خلک په دې خاطر بندي شوي چې له مخالفینو سره یې خپلې کورنۍ یا قومي اړیکې ساتلې دي او یا په داسې ساحه کې ژوند کوي چې هلته د مخالفینو فعالیتونه ډېر دي او یا دا چې هلته د مخالفینو ملاتړ کېږي. اکثره دغه خلک چې تور یې ثابت نه شي تر څو ورځو بند تېرولو وروسته خوشې کېږي خو په ظاهره داسې ورته ویل کېږي چې له طالبانو سره یې سطحي اړیکې لرلې. د دې شکایتونو یو شمېر دا اندیښنې پیدا کوي چې ملکي خلک له مخالفینو سره یوازې د تصادفي پېژندنې یا اړیکو په خاطر د حملې هدف ګرځول کېږي، نه د دې اتهام په سبب چې ګواکې دوی له جګړه مارو سره په جګړو کې مستقیم ګډون لري. [31] له نظامي مسؤلینو او تحلیلګرانو سره مرکې ښيي چې ځینې عملیات د مخالفینو د مشرانو د نیولو د هدف لپاره د شبکه یي ستراتیژۍ یوه برخه ده. لکه څنګه چې د امریکا دنظامیانو یو مسؤول چې د شپنیو حملو د ارزونې د ډلې غړی ؤ او د شپنیو حملو د ترسره کولو اجازه یې هم ورکولې شوه، روښانه یې کړه چې : " که مطلوب نفر نه شئ نیولی نو داسې څوک ونیسئ چې هغه مطلوب نفر پېژني."[32]

یو بل دلیل چې شک کولی شو چې ډېرې شپنۍ حملې به د استخباراتي معلوماتو د راټولول په خاطر ترسره کېږي، هغه د شپنیو حملو د شمېر ډېروالی دی. یو نظامي مسؤول چې په شپنیو حملو کې ګډون لري (OSF) ته وویل چې د طالبانو ډېر کم لوړپوړي او متوسط قومندانان په ساحه کې دي چې دا خبره په هیڅ وجه په افغانستان

کې په یوه شپه کې (په منځنی کچه) تر ۲۰ زیاتې حملې نه شي توجیه کولی. هغه څرګنده کړه چې د طالبانو اکثره لوړ پوړي او متوسط قومندانان چې تر اوسه ژوندي دي، کیدای شي په پاکستان کې وي. مسؤولین وایي نظامیان پوهیږي ، هغه خلک چې حملې پرې کیږي مخالفین نه دي، خو کیدای شي چې د مخالفینو د فعالیت په اړه څه معلومات ولري. دا په دې معنی ده چې اوس په وړو مخالفو جګړه مارو هم حملې کیږي. دا موضوع پوښتنې راپیدا کوي چې ایا دا دومره یوه کافي او ضروري لاسته راوړنه ده چې په دې برخه کې فزیکي او روحي صدمې توجیه کړي چې ملکي خلکو ته و راوړي؟
دا توضیحات د یو شمېر نظامي مسؤولینو د مشاجرې لامل شول چې له (OSF) سره یې مرکه کوله. ځینو نظامي تحلیلګرانو او مشاورینو ویل چې شپني عملیات د تېر په څېر د طالبانو لوړپوړو او متوسطو قومندانانو ته ضربه ورکوي. دوی ادعا کوله چې د مخالفینو یو زیات شمېر قومندانان لا تراوسه ژوندي دي. ځکه چې مخالفین د افغان امنیتي ځواکونو په پرتله خپل قومندانان زر زر تبدیلوي. لکه څنګه چې یو پخواني مشاور جنرال پټریوس څرګنده کړه " د هغوی امکانات تر مونږ زیات دي."[33]

## په پراخه توګه نیونې او پراخ چاڼیز عملیات

اکثرو هغو کسانو چې مرکه ورسره شوې، ویلي دي چې د چاڼیزو عملیاتو او نیونو په هدف ګرځونه کې په عین وخت کې څو کورونه او کله کله ټول کلی شاملیږي[34] د بېلګې په توګه ځانګړو امریکایي ځواکونو او ملي اردو د ۲۱۰ کال په اکتوبر کې د کندز ولایت د قول تیپې ولسوالی د اتمانزو په کلي کې ستر شپني عملیات ترسره کړل چې د ۸۰ تر ۱۰۰ په شاوخوا کې نفر یې ونیول.
(OSF) په دې برخه کې له یو شمېر نیول شویو کسانو سره مرکې کړې چې د مرکو لنډیز او شاهدي به یې په راتلونکې کې درته وړاندې کړو.[35]
تر نیولو وروسته د کورنیو د نارینه وو غړیو لاسونه تړل شوي او د کلي جومات ته وړل شوي دي. د ۸۰ تر سلو پورې سړیو او هلکانو د شپې له اتو بجو د ورځې تر درې بجو پورې د کلي په جومات کې په بند کې تېره کړې ده. له ځانګړیو میتودونو کار اخیستل شوی څو له دوی څخه یو شمېر د لا زیاتو پوښتنو لپاره د ځانګړو عملیاتو د هډې ودانۍ ته غوره کړي. د دې ځواکونو یو مخبر چې ماسک یې تړلی ؤ، بندیان یې تر نظر تېرول او هغه اشخاص یې د لاس په اشاره مامور ینو ته ورپه ګوته کول چې باید ډېرې پوښتنې او پلټنې ترې شوې وای. د ډېرو پلټنو او پوښتنو لپاره د اشخاصو د غوراوي لپاره اغېزمنې نښې د ږیرې لرل، د جامو د ولیو منځ برخې شکېدل ( د وسلې ګرځولو څرګندوی وو) او د لاسونو ښوی والی چې زیږه نه وو ( د بزګری نه کولو نښه وه) او همدا راز نورې اغېزمنې نښې وې چې د نیول شویو اشخاصو له منځه یې د ډېرو پلټنو او پوښتنو لپاره خلک انتخابول. بالاخره یې د دې پروسې په پای کې پنځلس نفر د ډېرو پوښتنو او پلټنو لپاره د امریکایي ځواکونو هډې ته یووړل چې هغوی هم بالاخره تر پوښتنو او پلټنو وروسته راخوشې شول.

د سیمه ییز حکومت چارواکیو ویل چې دې ته ورته عملیات چې پراخه نیونې په کې وې، د ۲۱۰ کال په پای او د ۲۰۱۱کال په لومړیو کې د کندز په ټولو کلیو کې په پراخه توګه تر سره شوې دي.[36]

نور شپني عملیات هم چې پراخه نیونې په کې وې د OSF او TLO دفتر او نورو ټولو مستقلو څارنکو له خوا رپوټ شوي دي لکه:

- د یو رپورټ له مخې د ایساف او افغان ګډ ځواکونه د ۲۰۱۰ کال په اکتوبر کې د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالی موشان کلي ته ورننوتي، ښځې او نارینه یې سره بېل کړي. وروسته یې بیا نارینه چې شمېر یې د ۵۰ تر ۶۰ پورې ؤ، جلا کور ته وړي او له ۲۴ساعتو زیاتې مودې پورې یې د طالبانو سره د تړاو په تور تري پوښتنې کړي دي، چې د پوښتیدنې په پای کې یې له دوی څخه یو شمېر د ډېرو پوښتنو او پلټنو لپاره د کندهار هوایي ډګر ته بیولي دي.[37]
- د یوناما او په افغانستان کې د بشري حقونو خپلواک کمسیون د رپورټ له مخې، افغان او ایساف مشترکو ځواکونو د ۲۰۱۰ کال په ډسمبر کې د کندهار ولایت په شاولي کوټ کې یو لړ چاپیز عملیات ترسره کړل چې پرلپسې نیونې هم په کې وې، د ۱۰۰ سړیو او هلکانو شاوخوا یې نیولي وو او دوه ورځې پرلپسې یې تري پوښتنې کولې.[38] پورتنیو دوو یادو شویو سازمانونو د کندهار ولایت د تنګي په کلي کې د ۳۰ نفرو نیول شویو نارینه وو خبر ورکړی چې تقریباً د شاولي کوټ له عملیاتو سره په یو وخت ترسره شوي وو.

خلک دې ډول عملیاتو ته چې پراخه نیونې هم په کې وې، شپني عملیات وايي. په داسې حال کې چې نظامي مقامات یې چاپیز عملیات نوموي. شپني عملیات د استخباراتي رپوټونو پر بنسټ ځانګړي هدف یا اهدافو ته د رسیدو لپاره ترسره کېږي. خو د دې پر عکس چاپیز عملیات هغه وخت ترسره کېږي چې نړیوال وسله وال ځواکونه د شپنیو عملیاتو لپاره مؤثق استخباراتي رپوټ ونه لري او د چاپیزو عملیاتو له لارې دجګړه مار وپېژندنې او د دښمن فعالیتونه برسېره کړي. د بېلګې په توګه نړیوال وسله وال ځواکونه په یو خاص کلي یا ځای کې د مخالفینو د شتون په هکله او یا د هغوی له خوا د بمب جوړونې او نورو نظامي چارو لپاره د کلي څخه په استفاده کولو خبر وي، خو د پټیدو د ځای یا د دښمنو افرادو د هویت په اړه دقیقه اطلاع نه لري. نو په دې صورت کې ناچاره پر مشخص هدف د حملې پر ځای، په یو کلي یا خاصه ساحه کې پلټنې ترسره کوي. د دې کار لپاره کلی یا ساحه محاصره کوي، مواصلاتي لارې یې تړي او یو شمېر عسکر دننه ورلېږي څو کور په کور پلټنه وکړي او د کلي خلک وپوښتي.

چاپیز عملیات کیدی شي څو ساعته یا څو ورځې وغځېږي او د ورځې یا شپې په اوږدو کې رامنځته شي.[39]

دا چې کوم عملیات شپني او کوم چاپیز ونوموو، دومره مهمه نه ده. بلکې مهمه دا ده چې هغه استخباراتي رپوټونه چې د هغوی له مخې عملیات ترسره شوي، دقیق وو او که د بې ګناه خلکو د ځورونې او کړونې لامل شوي دي.

استخباراتي رپوټونه چې هرڅومره ګونګ وي او لږ ځیرنه په کې شوې وي، د هغوی پر بنسټ عملیات په همغومره اندازه غیر دقیق او

د عامه حقونو د نقض لامل کېږي ،چې جدي حقوقي پوښتنې او د افغاني ټولنې غوسه راپارولی شي.
په اکثرو مواردو کې چاپیز عملیات په ډېرو عامو او سطحي استخباراتو متکي وي نو له همدې کبله ټاکل شوي هدف ته ډېر لږ رسېږي. همدارنګه روښانه نه ده چې ایا د شپنیو عملیاتو په تاکتیکي طرزالعملونو کې اصلاحات په چاپیز عملیاتو کې هم د اجراء وړ دي او کنه؟

### *حقوقي (قانوني) اندېښنې : د شپنیو عملیاتو زیاتېدل د ملکي خلکو د نیولو خطر زیاتوي*

### أ.د عملیاتو هدف باید جګړه مار یا هغه کسان وي چې په تاوتریخوالي کې مستقیم لاس ولري.

د پورته ذکر شویو اعمالو ترسره کول د دې شونتیا رامنځته کوي چې نړیوال ځواکونه د "محاربې" او یا هغو کسانو په اړه کلي او دقیق تعریف نه لري چې په جګړه او تاوتریخوالي کې مستقیم دخیل دي. نو دا موضوع د دې لامل کېږي چې ملکي افراد هدف وګرځول شي، په داسې حال کې چې د نړیوال قانون له مخې باید د ملکي افرادو ساتنه وشي.
نړیوال ځواکونه شپني عملیات د اردو د فعالیتونو جزء ګڼي، نه د پولیسو. نو له همدې کبله یې د نړیوال بشري قانون تابع بولي. په داسې حال کې چې نوموړی قانون اردو ته د پولیسو په پرتله د نظامي ځواکونو د استفادې ډېر حق ورکوي، پر ملکي افرادو حمله او د ملکیانو هدف ګرځول منع کوي. دا په دې معنی ده چې نړیوال ځواکونه باید دا ډول عملیات یوازې د نظامي قانوني اهدافو، جګړه مارو او هغو ملکیانو پر خلاف ترسره کړي چې مستقیم په جګړه کې دخیل وي.[40]
په جګړه کې د ملکیانو د دخالت (DPH) د دقیق تعریف په اړه بحثونه روان کړې دي. سره له دې چې د سره صلیب نړیواله کمیټه (ICRC) او نور ټول نړیوال حقوقي بنسټونه په دې باور دي چې (DPH) یا په تاوتریخوالي کې د ملکیانو دخالت هغو اعمالو ته وایي چې د مړینې، ټپي کولو او یا د شتمنیو د ضیاع مستقیم لامل وګرځي.[41] د پورتني تعریف پر بنسټ هغه اعمال چې د جګړې د پیاوړتیا او ملاتړ په خاطر سیاسي، مالي اویا تبلیغاتي چارې ترسره کوي د (DPH ) په تعریف کې نه راځي.
هغه غیر نظامیان چې د مخالفینو په اړه اطلاع لري او یا ورته خواړه او پټنځی چمتو کوي په جګړه کې مستقیم دخالت نه لري. د نړیوال قانون له مخې دوی په عملیاتو کې چې شپني عملیات هم په کې شامل دي، مصؤنیت لري او باید هدف ونه ګرځول شي.[42]
اکثره ملکي افراد وایي چې دوی عملاً ګواښل کېږي او اړویستل کېږي چې مخالفینو ته مرسته چمتو کړي، چې دا په جګړه کې د ملکیانو د دخالت (DPH ) په کټګورۍ کې د دې ډول افرادو د نه شاملیدو یو بل دلیل دی. په داسې حالاتو کې له مخالفینو سره همکاري له ځانه

دفاع ده او باید د چا د حقونو ترپښو لاندي کیدو اساس ونه ګرځول شي.[43]
حتی هغه اعمال لکه د مخالفینو نقدي یا جنسي ملاتړ چې د افغانستان په قوانینو کې جرم ګڼل کېږي، باید د هغو جرمونو په سطحه ونه ارزول شي چې په (DPH ) کې شامل دي. په دې برخو کې باید اردو د عدلي مراجعو ځای ناستې نه شي چې نیونې او پوښتنې وکړي. په جرمونو د تورنو کسانو څارنه جنایي او عدلي مراجعو ته سپارل شوې ده، د منل شویو معیارونو سره سم دې ترسره شي.[44]
که څه هم هغه معلومات چې ممکن ځینې ملکي افراد د مخالفینو د ځواکونو او فعالیتونو ځای په ځای کول په کې وي، په خپله ډېر ارزښت لري، چې بیا هم نه شو کولی چې د دې اعمالو تورن په تاوتریخوالي او جګړه کې مستقیم وښیو. د هغو معلوماتو په اختیار کې لرل چې په اصطلاح غیر فعال دي، باید د دې لامل نه شي چې د هغې مالک ته د (DPH ) په سطحه د محکومیدو لپاره مقرره جوړه او عملي کړي. هغه افراد چې یوازې دا ډول معلومات لري او په جګړه ییزو فعالیتونو کې مستقیم لاس ونه لري بیا هم ملکي افراد ګڼل کېږي چې په نظامي عملیاتو کې د هغوی هدف ګرځول غیر قانوني دي.
له نظامي چارواکو او ملکي خلکو سره مرکې دا ښیي چې د نظامي عملیاتو یو دلیل استخباراتي معلومات راټولول دي. د شپنیو عملیاتو د امر په صادرولو او د هغو د ترسره کولو په طرز کې د شفافیت د نه شتون ارزونه دا ده چې د دوی فعالیتونه څو واړې له خپل حد اوښتي دي او د اطلاعاتو راټولولو پر ځای یې خلک هدف ګرځولي او نیولي دي. دا چې د ډېرو شپنیو او چاپېزو عملیاتو په اوږدو کې داسې افراد نیول شوي چې له مخالفینو سره سطحي اړیکې لري او یا یې په اړه معلومات لري، داسې اندیښنې یې رامنځته کړي چې نړیوال ځواکونه د خپل نظامي قوت په استفادې سره ملکي افراد په جګړه کې د اشتراک په خاطر نه ، بلکې یوازې د استخباراتي او نظامي معلوماتو په لرلو سره بندیانوي.
په دې کې شک نشته چې د جګړه مارو او حتی هغو ملکیانو پلټنه او پوښتیدنه باید ترسره شي چې له جنایت او بغاوت سره تړاو ولري، خو مهمه دا ده چې هغه لارې چارې او وسایل چې په دې اړه ترې کار اخیستل کېږي، باید مسؤون او له مدني اصولو سره سم وي.[45]
د ځواکونو میتود او شدت چې په شپنیو عملیاتو کې ترې کار اخیستل کېږي، په ځانګړې توګه د هغو ډېرو وژونکو وسلو کارول چې په نظامي تعلیم ناموکې مجاز وي؛ د ملکي افرادو د نیونې لپاره چې په جګړه کې مستقیم دخالت ونه لري او د نړیوالو ځواکونو لپاره فزیکي تهدید هم نه وي، په هیڅ وجه ضروري نه دي. د دې پرځای باید نړیوال ځواکونه له هغو لارو چارو او وسایلو کار واخلي چې ډېر لږ زیان ولري او له هغو معیارونو سره په ټکر کې نه وي چې کارول یې تحدید او منع دي.

## ب.په پراخه توګه نیونو د مجرمینو په تشخیص کې دقت له منځه وړی او د ټولیزو مجازاتو په توګه ګڼل کېږي

د پورتنیو مسائلو تر څنګ، په چاڼیزو عملیاتو کې په پراخه توګه نیونو، د اصلي مجرمینو په پېژندنه کې جدي تېروتنې رامنځته کړې دي. امنیتي اړتیاوې کله کله د دې لامل کېږي چې یو شمېر افراد په تصادفي او یا د عملیاتو په ترڅ کې ونیول شي، خو هغه عملیات چې ملکي افراد په کې په تاوتریخوالي او جګړه کې ښکېل نه وي، یوازې د پوښتنې او پلټنې په خاطر د څارنې او نیونې هدف وګرځي یو غیر انساني عمل دی، د ازادۍ غیر قانوني سلبول دي او د ژنیو د څلورواړو ژمنو د درېمې مادې سره په ټکر کې دی.[46]
د ملګرو ملتونو د قانون له مخې باید نیول یا بندي کول په انفرادي توګه وي، نه د ډله ییزو مجازاتو په ترڅ کې، چې د حدث، ګومان او یا تبعیض له مخې وي.[47] د اوسیدو د ځای، سن، جنسیت، قوم او قبیلې پر بنسټ د افرادو نیول بې ځایه او تبعیض دی او د درېمې مادې مخالف دي چې په ټینګار سره له ملکي افرادو سره د انساني چلند غوښتونکې ده، بې له دې چې نژادي، مذهبي، دزېږنځي تفاوتونه او نور ټول مشخصات په پام کې ونیول شي.[48]

## پراخ عملیات، د مثبتو اصلاحاتو راوستل محدودوي

د شپنیوعملیاتو پراخه لمن نه یوازې دا چې په عملیاتو کې داصلاحاتو پېژندنه او د اغېزو منل محدودوي، بلکې د دې ډول عملیاتو پر واندې د خلکو غبرګون ډېر منفي کوي. په مرکو کې د پوښتل شویو له هغو ورکړل شویو مثالونو سره سره چې هغه کورونه چې ( د مخالفینو شتون یا پرې د تېریدو په سبب) په دقیقه توګه د عملیاتو هدف ګرځیدلي وو، نه یې شول کولی چې خپل قهر او غوسه پټه کړي ځکه دوی اندیښمن وو چې کیدی شي د کورنۍ ټول نارینه به یې نیول شوي وي، چې دې غوسې په هدف ټاکنه کې د دقت زیاتوالی او د عملیاتو ترسره کول په بشپړه توګه تر خپل سیوري لاندې راوستل.
د لا روښانتیا لپاره د یو ننګرهاري بېلګه راوړو چې د هغو شپنیو عملیاتو په اړه یې خبرې کولې چې د ۲۰۱۰ کال په وروستیو کې د دې ولایت په شیرزاد ولسوالۍ کې ترسره شوي وو. د دې سړي په وینا چې پر هغه طالب قومندان چې د عملیاتو هدف ؤ سربېره ګڼ ملکي خلک هم د عملیاتو په ترڅ کې ووژل شول. ” په دې اړه د ایساف رپورټ دقیق ؤ، په هدف کې نیول شوی شخص یو مخالف جنګیالی ؤ، خو نیمایي هغه خلک چې په دې کور کې وو ملکي وو. دا د یو ملکي سړي کور ؤ (نه د ملاداوود) او طالبان په زوره ورننوتي وو.[49] د افغانانو شکایت اکثره د دې ډول عملیاتو په خواره واره توب متمرکز دی. ” که زه چېرته د کوم جرم مرتکب شم نو هغوی باید له ماسره معامله وکړي. زما د مور، خور او ماشومانو ځورولو ته اړتیا نشته."[50]
اکثره هغه خلک چې د طالبانو په اړه د معلوماتو لرلو او یا په هغه کور کې د دوی شتون چې د عملیاتو هدف ؤ، نیول شوي وو ( خو په خپله دوی هدف نه وو) د یوې اوونۍ په دننه کې بېرته راخوشې شوې دي. په دې برخه کې ملکي خلک ګومان کوي چې د غلطو

استخباراتي معلوماتو پر بنسټ عمليات ترسره شوي دي، چې دا موضوع د نړيوالو ځواکونو دا هڅې بې اغېزې کوي چې په عملياتو کې د دقت ، د تلفاتو او د ملکي افرادو د ازار د مخنيوي په خاطر يې کوي.

د ايساف هغه هڅې چې د شپنيو عملياتو د محدودو شودلو، په عملياتو کې د دقت او د دقيقو استخباراتي رپوټونو له مخې د عملياتو ترسره کول ښيي، په عمومي توګه د غير دقيقو عملياتو په ترڅ کې د ډله ييزې نيونې او د کليو د ټولو نارينه وو څخه دپوښتنو کولو تر اغېزې لاندې راځي.

په مجموع کې، د شپنيو عملياتو د پراختيا ستراتيژۍ په پاموړ توګه د افغانانو غضب او غوسه راپارولي دي. د شپنيو عملياتو په اړه د ټولنو ټوليزه انګېرنه دا ده چې غير نظامي خلک په قصدي توګه هدف ګرځول کېږي او ځورول کېږي څو مخالفينو ته له خوړو او جامو ورکولو لاس واخلي او يا هم د هغوی په اړه اطلاعات له امنيتي نړيوالو ځواکونو سره شريک کړي. دې موضوع د عامو خلکو لپاره يو غټ سرخوږی جوړ کړی دی، د هغو عوامو لپاره چې په دې پوهېږي چې د شورشيانو پر وړاندې مقاومت څه پايلې لرلی شي، دوی د دوو ښکېلو جګړه مارو قدرتونو تر منځ خپل ځان تر پښو لاندې شوی ويني.

هغه عملياتي ستراتيژۍ چې له مخې يې کورنی او ياقومي کړی د عملياتو هدف ګرځول کېږي، په ځانګړې توګه هغه ډله خلک راپاروي او قهروي چې په يو ډول نه يو ډل خپل ستراتيژيک ارزښت تر نورو کم ويني. په افغانستان کې د کورنيو ريښې او رشتې ډېرې پياوړې او پېچلې دي چې د کورنيو د نيولو لپاره د دې اړيکو او رشتو کارول له ستر خطره ډک دي. لکه څنګه چې په کندهار کې يو سيمه ييز ژورناليست څرګنده کړه: ” نړيوال ځواکونه بايد په کليو کې په دې بهانه د بې ګوناه خلکو نيول بند کړي چې دوی له مخالفينو سره کورنی اړيکې لري. ځکه،که د داسې اړيکو لرل د نيونې لپاره لازم وي نو بيا بايد د ټول جنوب خلک ونيسي. ځکه چې د دې سيمو هر فرد په يو ډول نه يو ډول له مخالفينو سره کورنی اړيکې لري. هغه څوک چې د مخالفينو په ليکو کې په فعاله توګه جنګېږي زما تره، د ترور زوی، د ماما زوی، وراره او يا خوريی دی. "

## ت.غير نظاميانو ته زيان رسونه او حساب ورکول

ايساف استدلال کوي چې شپنی حملې د غير نظاميانو ډېر کم شمېر تلفات لري، په همدې ترتيب د نظامي ستراتيژۍ په پرتله چې د ورځې په اوږدو کې د دوديزې مبارزې په موضوعاتو ډېره تکيه کوي، نظاميانو ته د زيان رسيدنې د خطر راټيټولو ښه لاره ده. د شپې پر وخت د سربازانو تکتيکي موفقيت دا دی چې دښمن ناڅاپه او غافل په ګير ورځي، سربازان په شپه کې د ليدو د وړتيا او نورو پرمخ تلليو ټارنيزو سيستمونو څخه برخمن دي او کولی شي چې مخکې تر مخکې هدف وويني. ايساف ادعا کوي چې دا تکتيکي بهتري اغېزمنه ده چې نظامي ځواکونو يا غير نظاميانو ته د زيان رسيدو د خطر د کمولو هدف ته د رسيدو په برخه کې مرسته کوي. ايساف استدلال کوي چې په شپه کې ډېر کم ملکي خلک له کورونو د باندې وي چې له همدې کبله دواړو خواوو ته د زيان رسيدو احتمال

کمېږي.
سره له دې هم، شپنی حملې د ملکي افرادو له تلفاتو، د نیونې او بندي کولو پر وخت د بد چلند او د خلکو د شتمنی له منځه تلو سره له اوږدې مودې راهیسې اړیکه لري.د ایساف د ډېرو تکتیکي تعلیم نامو په موادو کې هڅه شوې چې د غیر نظامیانو د تلفاتو په راټیټولو تمرکز وکړي او دې انتقاداتو ته رسیدنه وکړي. که څه هم اکثرو دې مقرراتو پاموړ پرمختګ موندلی خو غیر نظامیانو ته تلفات اوس هم پېښېږي، په ځانګړې توګه د افغانانو د ناوړه تعبیر په نتیجه کې چې دې عملیاتو ته د دوی سره دښمني بولي. پر دې سربېره، د شپنیو حملو زیاتوالی او پراخه هدف ټاکنې دا ښیي چې هر کال په زرګونو غیر نظامیان نیول شوي،ځینې یې په افغاني زندانونو کې شکنجه شوي او همدارنګه دوی او د دوی کورنیو ته درانه مالي او عاطفي زیانونه ور اوړي.

## ث.ډېر احتیاط ، کم ملکي تلفات

مستقلو څارونکو، نیول شویو او د حملو شاهدانو له خوا د ۲۰۱۰ کال په اوږدو او د ۲۰۱۱کال په لومړی نیمایي کې د مړینې او بد چلند د کمو پېښو رپورټونه ورکړل شوې دي. د ملګرو ملتونو د ۲۰۰۹ کال د رپورټ له مخې په پلټونکو عملیاتو او نیونو کې ۹۸ غیر نظامیان وژل شوې دي چې (اکثره یې په شپنیو حملو کې دي) او په ۲۰۱۰ کال کې په سلو کې ۱۸ ټیټوالی ښیي.[51]
له دې سره سره د UN د څرګندونو له مخې هغو سیمو ته د نه لاسرسي له امله چې شپني حملات په کې ترسره کېږي، غیر نظامیانو ته تر هغې ډېر زیان رسېږي چې رپورټ یې ورکول کېږي.[52]
ایساف وایي په ۲۰۱۰ کال کې شپنیو حملو تر ۱٪ کم ملکي تلفات لرل.[53] همدارنګه زیاتوي چې په ۸۰٪ حملو کې هیڅ مرمی نه ده فیر شوې. ( د مکررو غوښتنو سره سره ، د دې موندنو د ملاتړ لپاره هیڅ احصائیه نه ده خپره شوې.)[54]
د ایساف په دوو تکتیکي لارښودونو کې یو شمېر مقررات چې د شپنیو حملو په ساحه کې د مالونو او املاکو صدمې محدودولو او د موجوده اوښتي زیان په خاطر په کې ځانګړې پاملرنه شوې ده. په داسې حال کې چې افغانان اوس هم د مالي زیانونو په اړه شکایت لري او وایي چې زیانونه د پخوا په پرتله یو څه کم شوي دي، د بېلګې په توګه، د کورونو د دروازو الوزولو یا د کورونو د بام له لارې د ګولیو اورولو، مالونو او حیواناتو ته د لږې صدمې رسیدلو شکایتونه شوي دي. په ځینو برخو کې افراد د خپلو ضبط شویو مالونو په بېرته ترلاسه کولو او یا په غرامت ترلاسه کولو بریالي شوي دي، چې په تېرو وختونو کې دا کار په ندرت سره پېښ شوی دی. له دې سره سره د شپنیو عملیاتو زیانمنو ته د خسارې جبران د نورو پېښو د جبران په پرتله ډېر کم دی.

## ج.د افغاني ټولنې د محتاط کیدو له امله د زیانونو کمښت

د ملکي تلفاتو کمښت نه دا چې یوازې د ایساف د ډېر احتیاط او

څارنې له کبله رامنځته شوی ، بلکې د افغاني ټولنې د ډېر احتیاط او اقداماتو پوروړی هم دی. هغه ټولنې چې OSF او TLO ورسره مرکې کړې، وایي چې د شپنیو حملو له امله د خطر او موجوده تاوتریخوالي د کمولو په خاطر یې د خپل چلند د بدلولو هڅې پیل کړې دي. د بېلګې په توګه، د ننګرهار ولایت د خوږیانو ولسوالۍ یو قومي مشر چې د ۲۰۱۰ کال په وروستیو کې د شپنیو حملو شاهد ؤ وویل: " هرڅوک چې د شپنیو حملو پر وخت له کوره راووځي نو په مرمۍ ویشتل کېږي، له همدې کبله هیڅوک نه غواړي چې د نظامي ځواکونو په لیدو سره له کوره راووځي.[55]

یو بل نفر چې د لغمان ولایت ؤ، ویې ویل چې کاکا یې د ګاونډي په کور کې په چړو زخمي شوی ؤ، که څه هم چې د تره زخمونه یې ژور وو، خو ده جرأت ونه کړ چې له خپله کوره راووځي او د تېې تره درملنه وکړي ، حتی د ټپونو د پانسمان لپاره یې د کور د رڼولو جرأت هم ونه کړ، ځکه چې له تېرو تجربو یې زده کړي وو چې په داسې حالاتو کې تر هدف لاندې راځي.[56] پنځه میاشتې شاوخوا وړاندې زمونږ په سیمه کې امریکایي بهرنیو ځواکونو لومړی د راکټ ډز وکړ ، تر دې وروسته د کور اوسیدونکي ۱۲ یا د سهار یوه بجه به وه چې له کوره راووتل څو ووینې چې څه پېښه شوې ده خو په مرمۍ وویشتل شو او ووژل شو. اوس ټول خلک پوهېږي چې د بمبارد پر وخت په کورونو کې و اوسي. اوس خلک له دې ډول پېښو سره بلد شوي دي او پوهېږي چې د امریکایانو په راتګ سره باید په کورونو کې و اوسي.[57]

## ح. لاهم شک د غیر نظامیانو تلفات رامنځته کېږي چې ګواکې دوی په جګړه کې ښکېل دي

د عملیاتو په طرز العمل کې له دقت او ښه والي سره اوس هم پاموړ غیر نظامیان وژل کېږي او زیانمنېږي. حتی د دې حملو له امله غیر نظامیانو ته د خطر د مخنیوي د زیاتو هڅو سره سره، پام وړ زیاتوالی راغلی دی ( په ځانګړې توګه د خلکو په منځ کې د پټیدو د تکتیک په برخه کې) ، د ملکي افرادو د تلفاتو او د مجرم په پېژندنه کې حتمي تېروتنه رامنځته کېږي. د استوګنې په یو کور کې د یو احتمالي مخالف نیول خامخا د بې ګناه ملکي افرادو ، په ځانګړې توګه (د ماشومانو او ښځو) چې په هغه کور کې اوسېږي د نظامي عملیاتو له خطر سره مخ کوي. عملیات باید د هغو ټولو افرادو په اړه ترسره شي چې دوی ته نږدې ژوند کوي. شپني عملیات ممکن جګړه ییز او ځانګړی وضعیت رامنځته کړي. د افغانانو په کورونو کې د وسلې شتون یوه عادي خبره ده او کله چې افغانان فکر وکړي چې حمله پرې شوې ده نو له وسلې کار اخلي. په نتیجه کې حتی هغه کسان چې د ورځې په اوږدو کې د حملې پر وړاندې مقاومت ونه کړي، نو کله چې په شپه کې پرې نابلده کسان حمله وکړي په غالب ګومان چې د حملې د ځواب او د ځان د دفاع په خاطر غبرګون ښیي، چې په دې صورت کې د غیر نظامیانو وژنه او ټپي کیدنه رامنځته کېږي.[58]

د ۲۰۱۰کال په فبروري کې د امریکا متحده ایالتونو د پکتیا ولایت په ګردیز کې په یوه حمله کې پنځه غیر نظامیان ووژل چې دوه په

کې ښځې وې، اته زخميان هم وو. په دې حمله کې د يو رپورټ له مخې د يو افغان ملي پوليس کور د هغه د يو مېلمه د نيولو په خاطر د حملي هدف ګرځيدلی . په داسي حال کې چې مېلمه تر حملي مخکي له هغه ځايه تللی ؤ. د نړيوالو ځواکونو په رسيدو سره د کورنی غړي د پوليس په شمول له دې وېرې له کوره تښتيدل او په منډو وو چې ګواکې حمله به پرې وشي.[59] نړيوالو ځواکونو د هغوی مخې ته اور واچاوه او پنځه واړه يې د دوو ښځو په شمول چې ورته نږدې وې ووژل.
هغه انګيرنه چې نړيوال ځواکونه يې دعملياتو پر وړاندې د خلکو له غبرګونونو او تاوتريخوالي څخه لري، په پام کې نيول چې کيدای شي له همدې کبله په جګړو کې د غير نظاميانو زيانونو ته زياتوالی ورکوي. د امريکا د متحده ايالتونو په نظامي قوانينو او مقرراتو کې پوځيانو ته دا اجازه ورکوي چې د ځان د دفاع لپاره د هغو افرادو پر وړاندې وژونکې وسله وکاروي چې د جګړه ييزو کړنو مرتکب کېږي، (د بېلګې په توګه د هغو خلکو پر وړاندې چې په امريکايي ځواکونو ډزې وکړي) او يا د هغو پر وړاندې چې د جګړې نيت وکړي چې دا ( له مستقيم زوره د استفادې څخه يو څه کم عمل دی).

داسې ښکاري چې د ايساف ځواکونه بې له دې چې د غير نظاميانو هغه پېچلي او وېروونکي شرايط چې ځان د حملې هدف ګڼي، په پام کې ونيسي، د هغوی جګړه ييز حرکات تر حد زيات تعبيروي. په نتيجه کې يې ځان ته د وژونکي ځواک څخه د ګټې اخيستنې تر حد زياته اجازه ورکړې ده چې غير نظاميانو ته د داسې زيان ور اړوني لامل کېږي او غير ضروري وي او بايد ډډه يې ترې کړې وای. هغه کړنې چې په اسانه شرايطو کې بې ضرره ښکاري، لکه له وسلې سره نږدې ويده کيدل.[60]، له مهاجمينو تېښته[61]، يا د شپنی حملې په وخت تښ له کوره راوتل[62] چې دا ټول په افغانستان کې د شپنيو حملو پر مهال د ناوړه قصد نښې ګڼل کېږي او د وژونکي وسلې د استعمال لامل کېږي.
د ۲۰۱۰کال په مارچ کې د يوې شپنی حملې پر وخت مبايل ټليفون ته د ۸۱ کلن سړي لاس وروړل چې په بستره کې پروت ؤ، ناوړه قصد وګڼل شو.[63]

## خ.له وژنې پرته زيانونه چې کله کله ورته پام نه کېږي، د زياتوالي په حال کې دي

د شپنيو حملو په ترڅ کې غير ملکيانو ته په ور اوښتونکو زيانونو بحث د غير نظاميانو په مړينه او وژنه تمرکز ته تمايل لري. بايد دې ته مو پام وي چې شپنی حملې د مړينې تر څنګ ګڼې غير مهلکې اغېزې هم لري. کيدی شي د شپنيو حملو په ترڅ کې د ټپي کيدلو د پېښو لږ رپورټونه ورکړل شوې وي. ځکه يې د خلکو لږه پاملرنه ور اړولې او د لږو تاوتريخوالو شاهدي ورکوي. په شپنيو حملو کې د ملکي خلکو پر تلفاتو ډېر تمرکز بايد هغه زيانونه ترسيوري او اغېز لاندې رانه ولي چې د خلکو دوژنې، نيونې او ټپي کيدنې لامل کېږي. د ۲۰۱۱کال تر فبروری پورې د درې مياشتو په اوږدو کې ۱۹۰۰ ملکي خلک توقيف شوې دي چې ډېر لږ يې

د همدې درې میاشتو په تېریدو سره په توقیف کې پاتې دي.[64] د نیول شویو کسانو بېرته زر خوشي کولو لامل کیدای شي د مدارکو کمښت وي ، نه بې ګناه توب، یا کیدای شي د دې لپاره یې بېرته زر خوشې کوي چې تحدید یې پامور نه ؤ. د نړیوالو ځواکونو له ډېرې زیاتې نیونې سره سره لکه د یو کور ټول نارینه غړي نیول او یا په چاڼیزو عملیاتو کې د ډېرو خلکو نیول دا په ګوته کوي چې یا خو اکثره نیول شوي کسان چې بېرته خوشې شوې دي، د عملیاتو اصلي هدف نه وه خو د رپوټونو له مخې نیول شوې دي یا په دې دلیل نیول شوي او بېرته زر خوشې شوې دي چې د عملیاتو پر وخت یې په ناوړه ځای کې شتون درلود. پر همدې بنسټ لکه څنګه چې د ملکي افرادو د نیولو او یا خوشې کولو په اړه دلایل نشته، احتمال شته چې د ۱۹۰۰ نیول شویوکسانو له ډلې به ډېر شمېر جګړه ماران نه وو.

هرڅومره که غیر جګړه مارانو زغرده پېژندنه او پرېښودنه مثبته نښه ده خو د ګڼو نیول شویو کسانو ارقام راښیي چې ممکن د شپنیو عملیاتو زیاتوالی دیو کال په اوږدو کې د زرګونو غیر جګړه مارانو توقیف ولري. بندي کول یوه زیانمنه تجربه ده، هغه که په ساحه کې د لنډې مودې لپاره وي او که د نړیوالو ځواکونو په نظامي هډو کې د اوږدې مودې لپاره او یا هم په افغاني توقیفونو کې وي. د افغانستان د ملي امنیت په توقیف ځایونو کې ناوړه چلند او ربړونه په پراخه توګه ښودل کېږي او د معلوم وضعیت له مخې د افغانستان په ټولو توقیف ځایونو کې دا حالت ډېر ناوړه دی.[65] ځینې بندیان نه پوهېږي چې په کوم جرم په توقیف کې دي یا کله خوشې کېږي. یو شمېر خلک چې حتی د څو محدودو ورځو لپاره هم بندیانېږي، ممکن پامور مالي زیانونه ور واوړي او هغه چې د جرم د ثبوت د نیشتوالي له امله خوشې کېږي نو په غالباً چې د خوشې کیدو لپاره د پریمانه رشوت په ورکولو اړویستل کېږي.

د هغو کسانو وېره او عقده د پام وړ ده چې د کورنیو غړي یې نیول کېږي او همداراز هغه چې د حملو شاهدان دي. هغه ۶۱ کلن سړی چې د ۲۰۱۰ کال په اپریل کې په خپل کور کې د یوې شپنۍ حملې شاهد ؤ روښانه یې کړه چې وسله والو یې څنګه زوی په لس یا دوولس مرمیو په ټټر ووېشتو. هغه له نورو درې نفرو سره په یو داسې واړه تشناب کې پټ شوی ؤ چې په ډېره سختۍ په کې درې نفر په ولاړه ځایېدلی شول. کله چې یې اجازه ورکړه څو له تشنابه راووځي نو دومره ډار شوی ؤ چې د بیا حملې له وېرې یې جرأت نه کاوه چې د خپل زوی مړی یوسي. له همدې کبله یې مړی په همغه حالت په کوټه کې پرېښود تر څو سبا شپې ته د ملي امنیت د اداري افراد د پېښې د څېړنې په موخه راورسیدل.[66]

## د. په حساب ورکولو او شفافیت کې لږ پرمختګ

د شپنیو حملو زیاتیدل پر ګڼو ملکي خلکو له ناوړه اغېزو سره، چې باید بشپړ شفافیت او مسؤولیت منل په کې وي، د دې لامل شوي چې ISAF په خلکو کې کمزوری معلوم شي. ″په ځانګړې توګه د دې ځواکونو د ځانګړیو شپنیو حملو ترسره کول.‟ له همدې کبله نړیوالو ځواکونو په تېر کال کې هڅه کړې چې په عمومي توګه د

ملکي خلکو شکایتونو او تلفاتو ته رسیدنه وکړي. په ځانګړې توګه هغه وخت چې شپنۍ حملې یې پیل کړې دي.

نړیوالو ځواکونو د ملکي تلفاتو د څارنې کمیټې (CCTC) څخه چې په ۲۰۰۸ کال کې جوړه شوې ده، د کاري پرمختګ په خاطر خپل ملاتړ چې د څېړنو پروسه او رپورټ هم ورسره مله وو، اعلان کړ. همداراز هغه پېښې چې د نړیوالو ځواکونو له نظره د ملکي تلفاتو په اړه یې شک درلود، دپېښو د ارزونې د ګډ ټیم (JIAT) له خوا چې د څېړنو د پروسې کړنې د یو ستوري لرونکي یا عین رتبه جنرال له خوا ارزول کېدې وروسپارل شوې. په ځانګړې توګه " د بحث پاروونکو او پېچلیو قضیو څېړنه چې د پېښې د ځای لیدنې ته یې اړتیا درلوده، دپېښو د ارزونې د ګډ ټیم (JIAT) او د افغانستان دولت له خوا و ارزول شوې. د دې ارزونې په ابتدایي مطالعه کې د پېښې په ځای کې شواهد اود ښکېلو ډلو او له دولتي محلي چارواکو سره خبرې اترې شاملې وې.

د ملکي افرادو د تلفاتو په اړه یو کاري ګروپ د ۲۰۱۱کال په مارچ کې جوړ شو چې په عملیاتي او تکتیکي پالیسۍ کې تغیر ومومي څو په ښه توګه د ملکي افرادو په تلفاتو او شکایتونو کې کمښت راولي. د ۲۰۱۱کال د پسرلي او اوړي په وروستیو کې نړیوالوامنیتي ځواکونو له نړیوالي او افغاني مدني ټولنې سره د ګډو کنفرانسونو د کوربه توب له لارې د دوامدارو اړیکو د ټینګښت ډېره هڅه وکړه څو مدني ټولنه له خپلواکو بنسټونو سره د دلیوالتوب او اندیښنو په اړه چې لري یې، لیدنې کتنې وکړي.[67]

سره له دې چې دا ټول مثبت ګامونه ګڼل کیدی شي، د حساب ورکولو د ټولو خواوو د اصلاح لپاره پرمختګ ناکام شوی دی او وضعیت یې حتی نور هم ډېر خراب شوی دی. نړیوالو امنیتي ځواکونو د خپلواکو څارونکو اندیښنو ته تر پخوا ډېره کمه پاملرنه کړې چې د ملکي تلفاتو د زیاتوالي په اړه وې. د بېلګې په توګه، نړیوالو ځواکونو په جګړه مارتوب د تورنو ملکي افرادو د هویت په اړه د شواهدو په چمتو کولو، په سیمه کې د هغو ویډیو ګانو نورو شواهدو د شریکولو ( چې مخکې تر دې په واک کې ورکول کېدې)، د لومړنیو ترلاسه شویو شکونو په اړه چې په ظاهره د شواهدو مخالف وو، یا د څېړنو د نتیجو د وروستني رپورټ په چمتو کولو کې اوس تر پخوا له همکارۍ سره ډېره کمه لیوالتیا ښودلې ده.[68]

عام حساب ورکول همدارنګه کمزوري او په خپل ځای پاتې دي. سره له دې چې د یوې پېښې په اړه مطبوعاتي بیانیه د پېښې له پېښېدو سره سمه په رسنیو کې خپرېږي خو د ملکي افرادو د تلفاتو په اړه د کومې څېړنې رپورټ، د هغې پرمختګ، د څېړنې نتیجې، یا د پېښې تر پېښیدو وروسته عامو خلکو ته معلومات نه دي ورکړل شوي.[69] کله چې رسنۍ د مخالفینو د وژنې او نیونې خبر خپور کړي او وروسته بیا هغه ناسم ثابت شي، نو د هغه خبر سمونه په ندرت سره خپرېږي.

د ملکي افرادو د تلفاتو مجموعه د ملکي تلفاتو د څارنې په کمیټه کې لا سمه نه وي ظاهره شوې چې په لومړني رپورټ کې په تېروتنو اعتراف وشي. نړیوالو امنیتي ځواکونو د ۲۰۱۱کال له فبرورۍ راپه دېخوا تر اوسه پورې کوم مهم تکتیکي لارښود نه دی خپور کړی.[70]

د ځواب ورکولو موضوع په ځانګړې توګه " د شپنیو حملو په اړه ډېره کمزورې ده، ځکه هغه ځواکونه چې د شپنیو حملو ډېر مسؤولیت لري، د مرکز تر قوماندې لاندې ځانګړي ځواکونه (JSOC) د " ادمیرال ویلیم مک کراوین" په رهبری، چې په افغانستان کې فعالیت کوي، د ځواکونو تر منځ شفافیت او حساب ورکولو ته تر ټولو لږ پابند دي.[71] دوی په دې عادت شوي چې له خپلواکو څارونکو سره مرکه او یا ملاقات ونه مني. له ډېرو او تکراري هڅو سره سره چې دا ځواک د ایساف ځواکونو په هډه کې مدغم شي، بیا هم دا ځواکونه د تېر په څېر د ځانګړیو عملیاتو قومندانی (U.S.SOCOM) ته چې د فلوریدا په تمپه کې مېشته ده، رپورټ ورکوي. د دې ډلې د قوماندې جلا جوړښت ته په پاملرنې سره، د نړیوالو امنیتي ځواکونو د مکررې پلټنې او ارزونې سره سره بیا هم په دې ونه توانیدل چې دا تصدیق کړي چې د نړیوالو امنیتي ځواکونو تاکتیکي لارښودونه په دې ځواکونو تطبیقېږي او کنه. که څه هم د ایساف ځواکونو مامورینو دا یادونه کړې چې دوی د نړیوالو امنیتي ځواکونو ټول تاکتیکي لارښودونه د پېښو د رپورټ په شمول لکه د ملکي تلفاتو احتمال په عملي توګه پلي کوي. له دې سره سره د ایساف ځواکونو مامورین چې د پېښو د څارنې او د زیان د جبران په چارو کې دخیل دي، دا یې منلې چې دوی د دې ځواکونو د کړنو بشپړه څارنه نه لري.

ځینې شپنې عملیات د امریکا د استخباراتي سازمان CIA له خوا ترسره شوي دي. سره له دې چې CIA کم شمېر شپنې عملیات ترسره کړي، خو د دې عملیاتو په اړه عام حساب ورکول یې صفر ته نږدې دي.

پر دې سربېره، په ساحه کې د شپنیو حملو په اړه د اندېښنې څرګندونه ستونزمنه ده ځکه چې ایساف او امریکا ځواکونه همیشه په دې باور دي چې دا عملیات دقیق او اغېزمن دي. دوی ډاډمن دي چې د شپنیو عملیاتو په هدف کې ښه والی راغلی دی، نو په همدې خاطر دوی دې ته مایل دي چې د ملکي تلفاتو دعوې د نه منلو وړ او بې باوره وښیي. د بېلګې په توګه، د ۲۰۱۰ کال په مې کې د ننګرهار ولایت د سره رود په ولسوالۍ کې تر یوې شپنۍ حملې وروسته، د یوې پلټنې په ترڅ کې، افغان دولت، ملګري ملتونه، د بشري حقونو خپلواکه کمیټه (AIHRC) او د بشري حقونو څارونکي ټول دې نتیجې ته ورسیدل چې دا په هویت پېژندنه کې د تېروتنې یوه قضیه وه چې د نهو ملکي وګړو د مړینې لامل شوې ده. خو د ایساف ځواکونو او امریکا دا دعوه په پرلپسې توګه ردوله او ترسره شوي عملیات یې بریالي ښودل. په داسې حالاتو کې ستړې کوونکې ده چې د څو معتبرو مؤسسو له خوا په ګډه ترسره شوې خپلواکې پلټنې د ایساف په داخلي ارزونه هیڅ اغېز ونه کړ، په داسې حال کې چې د ایساف ارزونه د دولتي مامورینو او عیني شاهدانو د مرکو پر ځای اکثره د دوی په خپلو څرګندونو ولاړه وه.

په شپنیو عملیاتو کې د شفافیت د نیشتوالي له کبله، د دې ځواکونو د افرادو په اړه اطلاعات چې د ملکي تلفاتو د پېښو او نورو ټولو ناوړه پېښو په رامنځته کیدو کې دخیل دي او په انضباطي جزاګانو محکومېږي، په ندرت سره د عام محضر له خوا تصدیق شوې دي.

## د نورو عملیاتو په پرتله د شپنیو عملیاتو د زیان د جبیرې موارد ډېر کم دي

سره له دې چې په ټول افغانستان کې ملکي افرادو ته د زیان رسیدنې په قضیو کې تاوان ورکول دود شوی دی، خو د شپنیو حملو قربانیانو ته اوس هم د تاوان جبیره نه ده معمول شوې. په ډېرو قضیو کې د تاوان ورکړل شوې جبیره ( تر ډېره د "ډاډګیرنې" یا " داوطلبی" په نومونو یادېږي، څرنګه چې دا ډول تاوان ورکول الزامي نه وي) په افغانستان کې ملکي افرادو ته ورکول کېږي چې د زیان تر لیدو ورسته شکایت درج کېږي.[72] د شپنیو حملو قربانیان اکثره ډارېږي چې د زیان د جبران وړاندیز وکړي او یا هم د وېرې او ورپسې د شپنیو حملو د ځانګړو ترسره کوونکو ځواکونو د لږ پېژندنې له مخې نه دي توانیدلي، چې د هغوی هویت وپېژني او شکایت پرې درج کړي. د تېروتنې په ترڅ کې یا غیر قانوني او همدارنګه د ایساف ځواکونو له خوا د خپلو تېروتنو او تقصیر منلو په ترڅ کې قربانیانو او نیول شویو ته د زیان د جبران لپاره د رسمي معیارونو کمښت د دې لامل کېږي څو دوی وتوانېږي چې د شپنیو حملو قربانیانو ته غرامت ورکول وځنډوي. داسې کېږي چې کیدای شي د ایساف ځواکونو په ټینګار او تر وخت وړاندې دریغ له امله چې په دقت ، هدف ټاکنې او د زیان د کمښت د ادعا پر بنسټ ولاړ دی، د شپنیو عملیاتو په اړه اکثره اندیښنې او دعوې په ناسمه او بې بنسټه توګه ښودل کېږي.

## ذ.د" وژنو" په هدف عملیات تر " نیولو" کم دي

د OSF او TLO دفتر مرکې ښیي چې د اکثرو شپنیو عملیاتو ستر هدف تالاشي او نیونه ده. سره له دې چې یو شمېر ځانګړي ماموریتونه د وژنې په هدف هم ترسره کېږي.[73] یو شمېر نظامي مقاماتو تایید کړې ده چې یو شمېر شپني عملیات یوازې د وژنې لپاره طرحه کېږي، نه د نیونې لپاره، چې دا عملیات په اقلیت کې دي او شمېر یې کم وي.[74]
د نړیوالو قوانینو له مخې باید جنګي افراد په قانوني توګه ونیول شي یا ووژل شي خو په دې شرط چې په ترسره کولو کې یې دبشر د نړیوالو قوانینو ټول اصول IHL مراعات شي. په داسې حال کې چې په افغانستان کې د ملکي او نظامي افرادو تفکیک ډېر ستونزمن دي نو په استخباراتي تېروتنو او عدم شفافیت سره له (نیونې) څخه د (وژنو) د زیاتیدو د ماموریت د ترویج د پرلپسې ستونزو سخته اندیښنه رامنځته کوي.[75]

## د دولت او افغاني ټولنې اندیښنې

شپني عملیات تر هر بل نظامي تکتیک د خلکو کورونو ته دننه ډېرې شخړې وروړي. حتی که د ماموریت ترسره کولو په وخت کې د تخریب د مخنیوي ډېره هڅه هم وشي، دعملیاتو د قربانیانو لپاره نتیجې دومره متجاوزانه او زیان اړوونکې وي چې هیڅ باور پرې نه کېږي. دا په داسې حال کې ده چې دولت او افغاني ټولنه په دوامداره توګه د شپنیو عملیاتو فوري غوښتونکې ده. د مثبت ځواب له نه

مـونـدلـو سره سره، هغوی استدلال کوي چې افغانان باید لږ تر لږه د شپنیو عملیاتو د ترسره کولو په اړه د ډېر کنټرول او د نظر د څرګندولو څواکمنتیا ولري. افغان دولت ادعا کوي چې د شپنیو عملیاتو په اړه د افغانانو عدم کنټرول او نه خبرول سرغړاوی او د حاکمیت نقض دی. افغان دولت او افغانه ټولنه استدلال کوي چې په عملیاتو کې د افغانانو غوره همغږي او دخالت هدف ته په رسیدو کې د تېروتنو او د فرهنګي حساسیت د کمښت لامل کېږي.

له ډېرې مودې راهیسې تر ننه افغانان دا شکایت لري چې له شپنیو عملیاتو سره د فرهنګي حساسیت سختېږي او زیاتېږي، په ځانګړې توګه د دوی د ښځینه وو استوګنځیونو ته ورننوتل او د نارینه وو په وسیله د هغوی پلټل چې دا د دوی د دود او عنعناتو مخالف دي.[76] دا خپلسري ننوتل هغه وخت ډېر له توهینه ډک وي چې د بهرنیانو له خوا ترسره شي. افغانانو همیش دا وړاندیز کړی چې د حملو رهبري باید د افغان ځواکونو په غاړه وي ځکه چې افغان ځواکونه د فرهنګي او دیني حساسیتونو په موضوعاتو پوهېږي. (که څه هم کیدی شي چې د عملیاتو ترسره کوونکی له حریف قوم یاقبیلې سره تړاو ولري او له تاوتریخوالي ډکې کړنې رامنځته کړي)[77]

د دې په ځواب کې هڅه شوې ده چې د دې پروسې په تاکتیکي لاربښودونو کې د تغیر له لارې او په ټولو عملیاتي تغیراتو کې افغان دولت ډېر سهیم وي او همدارنګه باید فرهنګي حساسیتونو ته پاملرنه وشي. دا اصلاحات څو اړخیزې نتیجې لري. د ایساف ځواکونه په کلي ډول هڅه کوي چې د شپنیو عملیاتو د ترسره کولو په لارو چارو بحث وکړي او د افغانانو ډېرې مهمې غوښتنې چې د شپنیو عملیاتو محدودول یا په بشپړه توګه بندول دي، له پامه وغورځوي.

## ر.د افغانانو د رول او کنټرول په وده کې څو اړخیزې نتیجې

د ۲۰۱۰ کال له پیله په یو شمېر عملیاتو کې تاکتیکي تغیرات څرګند شوي دي څو د افغانستان د دولت شکایتونو ته چې شپنیو حملو ته د دوی د نه رسیدنې او نه کنټرول پر بنسټ ولاړ دي.

ویل کېږي چې اوس افغان قوماندانان هم په اصطلاح د ” همغږۍ کمیټې“ چې عملیات تنظیموي[78]، یوه برخه ده او د باګرام په هډه او د کندهار په هوایي ډګر کې مېشت دي. افغان قوماندانان او چارواکي په دې کمیټه کې لږ تر لږه ۲۴ساعته وړاندې د شپنیو عملیاتو په اړه معلومات ترلاسه کوي، مرور پرې کوي او د دې صلاحیت لري چې یوه حمله په بشپړه توګه رد کړي او هغه ترسره نه کړي، یا د حملې د پلان د تغیر غوښتنه وکړي. د بېلګې په توګه؛ که چېرته افغان ځواکونه ارزونه وکړي چې د دې حملې ترسره کول د ملکي وګړو د ډېر زیان او غوسې لامل کېږي نو له ترسره کولو یې تېرېږي.[79] کله چې د یوې شپنۍ حملې پلان تایید شي، نو افغان قوماندانان د ډېرې همغږۍ په خاطر افغان کلیدي چارواکو ته لکه (والي) خبر ورکوي. په ځینو قضایاوو کې (یو شمېر نه ټول ) که چېرته والي نه وي یا د حملې ترسره کول تایید نه کړي نو حمله لغوه کېږي او نه ترسره کېږي.[80] پردې سربېره افغان ځواکونه په اکثرو شپنیو حملو کې سهیم وو او لږ تر لږه په سلو کې د پنځه ویشت حملو رهبري په غاړه لري. دا فیصدي افغان ځواکونو ته د

قدرت د انتقال په رانږدي کيدو سره نوره هم ډېرېږي. په داسې حال کې چې دا ګامونه د همکارۍ د ښه کيدو څرګندوی دي، بيا هم افغان مقامات ترې راضي نه دي. ولسمشر کرزي د ملي امنيت شورا او ارشد افغان چارواکو په شمول په ډاګه او تکرار سره دا استدلال کړی چې دوی ته په دې مشورو سره تر اوسه پورې مقنع ځواب او سمه اطلاع نه ده ورکړل شوې چې که حمله ترسره کېږي نو څه وخت، چېرته او څنګه ترسره کېږي.[81]

د افغانستان د خلکو تر منځ له شپنيو عملياتو سره نه محبوبيت ته په پاملرنې سره، د دې اعتراضاتو يو شمېر ممکن د عوامو درېځ نيونه وي چې افغان مقامات د خپلو سياسي ګټو په خاطر د شپنيو حملو څخه خپل ملاتړ او موافقه په روښانه توګه نه څرګندوي. له بله پلوه، قانوني دلايل شته چې ولې افغان مقامات ممکن دا احساس کړي چې دا اصلاحات د کنټرول او تداخل لپاره د دوی د غوښتنو ځواب نه شي ويلی. که هر څو په سلو کې ۵۰ شپنۍ حملې د افغانانو په رهبرۍ ترسره کېږي خو بيا هم د ټولو شپنيو حملو هدف يوازې د نړيوالو ځواکونو تر کنټرول او رهبرۍ لاندې انتخابېږي. نو پر همدې بنسټ، دا اصلاحات د ټولو حملو په کنټرول يا د هغوی په ترسره کولو او نه ترسره کولو کې لږ اغېز لرلی شي. د باګرام او کندهار په هوايي ډګرونو کې د " همغږۍ په کميټه" کې کم شمېر د باور وړ افغان مقامات د شپنيو حملو د صادرولو يا ردولو په اجازه کې دخيل دي. که څه هم د يادونې وړ ده چې دا مقامات د اصل پلان په انکشافاتو يا د هدف په ټاکنه کې سهم نه لري او اکثره تر ۲۴ساعتونو کمه موده د اندک معلوماتو په اړه د نظر د څرګندولو لپاره لري چې د امنيتي ځواکونو د نړيوالو ځواکونو له خوا ورسره شريکېږي. دلته دا سې نښې نښانې هم ليدل کېږي چې افغان مقامات ګواکې د تاييد په پروسه کې ځان ترفشار لاندې محسوسوي او د عملياتو د ترسره کولو په اړه يې تاييد داوطلب نه دی. ايساف ځواکونو (OSF) ته ويلي، کله چې دوی د شپنيو عملياتو د ترسره کولو په اړه له واليانو سره اړيکه نيسي، نو واليان اکثره وخت د اړيکې له نيولو ډډه کوي.[82]

بالاخره، محلي چارواکي – هغوی چې د زيانمنې ټولنې د غوسې سره د مخامخ کيدو له خطره عريضې کوي – په ندرت سره د عملياتو له ترسره کيدومخکې اطلاع ورکول کېږي، څه لا دا چې هغوی دې د اجازې ورکولو يا رد حق ولري.

## ز.له ځايي خلکو سره د اړيکو نيولو او معلوماتو شريکولو اړينتيا

په داسې حال کې چې همغږۍ په لوړه سطحه تر ډېره حده وده موندلې ده (نه په هغه سطحه چې افغانستان يې غوښتونکی دی) خو سره له دې هم له خلکو سره د پاموړ فعاليتونو په برخه کې اړيکې نه دي نيول شوې. افغاني ټولنه ډېر استدلال کوي چې ګڼې مشورې او مذاکرې له محلي رهبرانو سره هغه که رسمي وي او که غير رسمي له محلي ټولنو سره د کشمکشونو له منځه وړلو لپاره لار هواروونکې دي او په نتيجه کې له ډېرې سوله ييزې لارې تورن مخالفين نيول کيدی شي. د ټولنو تر ټولو وړه غوښتنه تر حملې وروسته اطلاعاتو ته لاسرسی، د ايساف توجيه او د بنديانو ساتنځی دی.

مهم تغیر چې په دې لاره کې په رسمي پالیسۍ کې راغلی دی، هغه دا دی چې د تاکتیکي لارښود په یوه ماده کې سپارښتنه شوې چې نړیوال ځواکونه چې کله د عملیاتو محل پرېږدي، د بندیانو افرادو په اړه معلومات او همدارنګه د هغوی د مصادره شویو مالونو او شتمنۍ د بېرته ورکولو لاره چاره به خلکو ته ښکاره کوي. د دې مادې ګټې چې بالاخره د ۲۰۱۰کال په ډسمبر کې واجب الاجرا شوه ، په نتیجه کې په ورو توګه عملي نه کړای شوه.[83] هرڅو چې OSF په څو دورو کې معلوماتي پاڼې چې نړیوالو ځواکونو ته به یې پرېښې وې او کله یې چې راټولې کړي او ارزولې دي نو لیدلې یې دي چې کله خو پاڼې بېخي د لوستو وړ نه وې او یا خو بېخي سپینې وې. په ډېرو مواردو کې مرکه کوونکو څرګنده کړې چې نړیوال ځواکونه د خلکو تر نیولو وروسته هیڅ معلوماتي پاڼې نه پرېږدي. کیدای شي چې په نتیجه کې په ټولنه کې دا ډول مکررې کړنې OSF او TLO ته شکایت شوی وي چې هغوی د خپلو شکایتونو رسولو او دنیول شویو کسانو یا بندیانو د موندلو هیڅ لار نه لري.
د پوهاوي میتودونو او له خلکو سره اړیکو چې په محلي سطحه د قوماندانانو له خوا رامنځته شوې، په دې توانیدلي چې د ګڼو مشورو لپاره د ټولنې ځینو غوښتنو ته مثبت ځواب ورکړي. د بېلګې په توګه یو شمېر قوماندانانو او ټولنو رپوټ ورکړی چې تر شپنیو حملو وروسته بحث پارونکې جرګې او اجتماعات سره راټول شوي څو معلومه کړي چې څه پېښه شوې ده – چې دا یو مثبت ګام دی.
په څو مواردو کې د ټولنې مشرانو OSF او TLO ته ویلي دي چې نړیوالو ځواکونو مخکې تر دې چې عملیات ترسره کړي، په مشترکه توګه یې له محلي چارواکو سره په بشپړه همغږۍ طرحه جوړه کړې ده. د بېلګې په توګه، د ارزګان ولایت د دهراود ولسوالۍ د دوو قومي مشرانو له خولې د ۲۰۱۰کال په پیل کې شپنۍ حملې د خلکو د ډېرې غوسې لامل شوې. خو د ۲۰۱۱کال له فبرورۍ راپه دې خوا د امریکا د متحده ایالتونو نظامي ځواکونه د تورنو افرادو په اړه تر عملیاتو مخکې د محلي جرګو سره مشورې کوي.[84] د سیمه ییزو مشرانو له خولې چې دا همغږي په حملو کې د دقت او د خلکو د شکایتونو د کمښت لامل شوې ده.
په همدې ترتیب، د ۲۰۱۱کال په مارچ کې د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ یو بزګر د مرکې په ترځ کې وویل چې اوس له نړیوالو ځواکونو سره د حملو په ترځ کې افغان پولیس او یا هم قومي سیمه ییز مشران موجود وي چې داچلند د افواهاتو او زیان لرونکو معلوماتو د کمښت لامل شوی دی.[85] هغه دا هم وویل چې دې همغږۍ دا لاره هواره کړې ده چې د نیول شویو افرادو کورنۍ د خپلو بندیانو په اړه معلومات ترلاسه کړي چې دا هم مثبت ګام دی.
په ځینو ځایونو کې چې تر حملو وړاندې ځایي ټولنو سره پراخه مشورې شوې دي – OSF او TLO د دقیقو او ښو عملیاتو رپوټ ترلاسه کړی دی. د دې په مقابل کې په هغو ځایونو کې چې محلي همغږي شتون نه لري – OSF او TLO د نه همغږۍ په اړه مشابه شکایتونه چې د استخباراتي تېروتنو پر بنسټ رامنځته کېږي، ترلاسه کړي دي. دا د دې څرګندوی دي چې محلي اړیکې او مشورې د دې حملو په اړه د غوسې په مقابل کې یوازینی عامل کیدلی شي.

## س.د افغاني ټولنې ټولې اندیښنې: د ښځو په اړه د لږ شکایتونو شتون، د افغان ځواکونو د ډېر حضور درناوی

**د دوو ورستیو لارښودونو په ترڅ کې هم هڅه شوې ده څو د افغاني ټولنې انتقادونو ته رسیدنه وشي د دې انتقادونو بنسټ لکه: شپنې عملیات او همدارنګه د خلکو شخصي حریم ته بې اجازې ورننوتل، دنارینه عسکرو له خوا د ښځو یا د هغوی د کوټې پلټل، له سپیو ګټه اخیستل ( چې د افغانانو په کلتور کې پلیت حیوان ګڼل کېږي) د پلټنې په وخت یا د بهرنیو ځواکونو له خوا د کورونو ناڅاپي پلټل چې په افغاني کلتور او مذهب کې تعرض ګڼل کېږي.[86]**

**دې انتقادونو ته یو کلیدي ځواب په شپنیو عملیاتو کې د افغاني ځواکونو ډېر اشتراک دی چې په ظاهره په پراخه پیمانه عملی شوی دی.[87] ډېرو عیني شاهدانو رپورټ ورکړی چې افغاني ځواکونو د شپې په پلټنه او حملو کې شتون درلود او ویلي یې دي چې د دوی د شتون له امله له خلکو سره د افغاني کلتور سره سم چلند شوی دی.**

د یو ځایي څېړونکي د څرګندونو له مخې چې د پلټنې او شپنیو عملیاتو پر وخت له بهرنیونړیوالو ځواکونو سره د افغان ملي امنیتي ځواکونو اوږه په اوږه شتون کولی شي چې د خلکو قهر او غوسه راکمه کړي. دوی د پلټنې او شپنیو عملیاتوپر وخت له خلکو سره خواخوږي ښیي او د خلکو دخصومت او دښمنۍ احساس راکموي.[88]

د ننګرهار ولایت یو بزګر چې په ۲۰۰۹ کال کې یې کور د شپنیو عملیاتو تر برید لاندې راغلی ؤ وایي: " اوس دا ډول عملیات دافغان ملي اردو، ملي پولیسو او ملي امنیت د ځواکونو له خوا ترسره کېږي. دوی له خلکو سره ښه چلند کوي او د تالاشئ پر وخت لومړی د کور له څښتنه اجازه اخلي او بیا کور ته ورننوځي"[89] ځینې خلک په دې باور دي چې افغان عسکر د هغو کسانو په پېژندنه، تفکیک او جدا کولو کې ډېر مهارت لري چې ځانګړې پاملرنې ته اړ دي لکه (ښځې، ماشومان، زاړه، مریضان یا معیوبین).

همدارنګه سربازان د تالاشۍ او شپنیو عملیاتو په ترڅ کې د ښځو، ماشومانو او سپینږیرو سره بېلولو ته ډېره پاملرنه کوي. ځینې وخت د نړیوالو ځواکونو د ښځینه ټیم ګومارل شوی وي چې ښځې وپلټي او یا ورسره خبرې وکړي.[90] په هغو مرکو کې چې د دې رپورټ د چمتو والي په خاطر شوې وې، د پخوانیو مرکو په پرتله کم شمېر افغانانو د ښځو د بې حرمتۍ په اړه شکایتونه کړې دي چې په دې برخه کې پام وړ پرمختګ ښیي. که څه هم تر اوسه هیڅا هم د عملیاتو په ترڅ کې ښځینه سربازانې نه دي لیدلي.

تکتیکي لارښودونه په همدې ترتیب وړاندیز کوي چې له هغو سره سم باید نړیوال ځواکونه د هرې تالاشۍ او عملیاتو په پیل کې د خطر زنګ یا خبرداري له کړنو استفاده وکړي. دا په دې خاطر طرحه شوې چې خلک فرصت ومومي او له خپلو کورنو په سوله ییزه توګه بهر راووځي او د دروازو ماتول او د خلکو کورونو ته ننوتل د خلکو له ذهنونو لیرې شي.

د ایساف ځواکونه ادعا کوي چې په هره حمله او تالاشۍ کې دا پالیسي مراعات شوې ده خو د اړیکو دفتر او OSF له خوا چې کومه

پلټنه شوې په هغې کې افغانانو ویلي چې په کم شمېر عملیاتو کې یې مخکې تر عملیاتو د خبرداری غږ اوریدلی دی. دا په خپله د دې څرګندویي کوي چې په دې برخه کې پرمختګ په هرو عملیاتو کې د خبرداري د تکرار له لارې یا د هغه د شکل د تغیر له لارې په داسې ډول چې افغانان پرې پوه شي او تحسین یې کړي، متصور او ممکن دی.

د افغانانو د هغو شکایتونو په ځواب کې چې په عملیاتو کې د سپیو د شتون پر بنسټ ولاړ دي، په تکتیکي لارښودونو کې داسې لارې چارې رامنځته شوي چې له سپیو کار اخیستل تر ډېره محدود شوې دي خو په بشپړه توګه بند شوي نه دي. خلک اوس هم د ناڅاپي تالاشیو په وخت کې د سپیو د شتون رپورټ ورکوي او دا هم چې ځینې وخت د خلکو مالونو او شتمنیو ته زیان رسوي او دا همیش د خلکو د غوسې او عصبانیت لامل کېږي.

## د افغان ځواکونو د شفافیت او حساب ور کولو اړینتیا

که څه هم په شپنیو عملیاتو او تالاشیو کې د افغان ځواکونو پراخه شتون د خلکو غوښتنو ته ور ځواب ، یو تولیز پرمختګ او وده ده، خو په دې معنی نه ده چې په عملیاتو کې د افغاني ځواکونو کارول، لکه څنګه چې د اریکو دفتر او OSF په وروستي رپورټ کې ذکر شوي، د تولو شتو ستونزو هواروونکي دي.[91] د پخواني او اوسني رپورټ لپاره د څېړنو په ترڅ کې د افغان ځواکونو په اړه په تینګار سره شکایتونه شته چې د تالاشئ اوشپنیو عملیاتو پر وخت یې د خلکو مالونه غلا کړي دي او یا په خپله د بد چلند مرتکب کېږي.[92] افغانان ورانديز کوي چې افغان ځواکونه باید د شپنیو عملیاتو او تالاشیو مسؤولیت په غاړه واخلي خو په دې شرط چې د خپلو کړو وړو حساب هم ورکړي.

د OSF او اړیکو دفتر د اطلاع پر بنسټ، د افغان ځواکونو د حساب ورکولو د تضمین په برخه کې تر اوسه کومه هڅه نه ده ترسره شوې او د افغان ملي امنیت د ځواکونو حساب ورکول په پراخه توګه کم عمره او کمزوري پاتې دي.[93] مرکه کوونکو په تینګار سره وړاندیز کړی دی چې نړیوال امنیتي ځواکونه باید هڅه وکړي څو په شپنیو عملیاتو او ناڅاپي تالاشیو کې د افغان ځواکونو مسؤولیت منښه تضمین کړي.

افغانان همداراز په عملیاتو کې د هغو ملیشو په مسؤولیت منښه انتقاد کوي چې په عملیاتو کې ونډه اخلي. د OSF او اړیکو دفتر په پخواني رپورټ کې په اصطلاح د کمپاین ځواکونو د بد چلند په اړه یادونه شوې ده. دا هغه نوم دی چې خلکو د هغو نامنظمو ملیشه یي ځواکونو لپاره ایښی دی چې د نظامي او استخباراتي ځواکونو د پیاوړتیا لپاره تربې کار اخلي. سره له دې چې په شپنیو عملیاتو کې د دې ځواکونو د کم اشتراک په اړه رپورټونه تر لاسه شوې دي خو د دوی کارول په کلي توګه نفي شوې نه دي. د دولت تر ملاتړ لاندې د غیر منظمو ځواکونو زیاتوالی، د استخباراتو تر امر لاندې ځواکونو او یا رسمي پروګرامونو په شمول لکه افغان محلي پولیس (ALP) پراخه وسله والې ډلې په یوازیتوب او یا له اسیاف ځواکونو سره یو ځای په عملیاتو کې دخیل دي.[94]

د غیر رسمي ملیشو او خصوصي امنیتي شرکتونو ماهیت په دې معنی دی چې که کومه پېښه یا ماجرا رامنځته کېږي، د هغوی مسؤولیت منښه ډېره ستونزمنه ده. همدارنګه محلي پولیس چې نوي جوړ شوې دي په اسانی سره مسؤولت منلو ته غاړه نه ږدي.[95] دا ځواکونه خوښوي چې له امریکایي خصوصي عملیاتي ځواکونو سره له نږدې کار وکړي، له همدې کبله محلي تولنې او د هغوی ځینې ملي پولیس تر حساب ورکولو لوړ ګڼي.

### ش. د شپنیو عملیاتو په بدیل موندلو کې ناکامي

اکثره افغاني تولنې OSF، TLO او د بشر د حقونو مؤسسې، استدلال کوي چې ایساف باید د شپنیو عملیاتو د ور کیدو د هڅې پر ځای، د امکان په صورت کې د نیوني لپاره بدیلې لارې ومومي. نیوني په هغو سیمو کې ور ښکاري او د قانون د پلي کولو له طرز العمل

سره سمې دي چې په بشپړه توګه د افغانستان د دولت په انحصار کې دي. ایساف وایي دوی د دې پلویان دي چې کله قومندانان د شپنیو عملیاتو غوښتنه کوي، باید پام وکړي چې ایا د هغو لپاره بدیل هم شته.[96] سره له دې هم کله چې د اړیکو دفتر او OSF په بېلابېلو مجالسو کې له نظامي صاحب منصبانو پوښتي دي چې په دې اړه یو مثال وړاندې کړي چې دوی د شپنیو عملیاتو د بدیل په توګه هڅه کړې ده، خو دوی داسې مثال نه دی وړاندې کړي.
د ایساف هغه مامورین چې د شپنیو عملیاتو د غوښتنو د تحلیل مسؤولیت لري، دا مني چې ډېر کم شمېر غوښتنې رد شوې دي چې دا په خپله د دې ډول عملیاتو د اړتیا په ارزونه کې د کافي دقت نه شتون په ګوته کوي. په ځینو برخو کې عیني شاهدانو او یا نړیوالو امنیتي ځواکونو رپوټ ورکړی دی چې عملیات یوازې په دې خاطر تر سپیده دم یا د سهار تر اذانه ځنډېدلي دي څو ورځنۍ عملیات وګڼل شي.

د ایساف ځواکونه استدلال کوي چې شپني عملیات په دې خاطر غوره ګڼل کېږي چې د ورځې له خوا نیول د هغو کسانو د قوي مقاومت خطر زیاتوي چې په هدف کې نیول شوي یا د سیمې د نورو کسانو چې کیدای شي د تاوتریخوالي او وینې تویېدو لامل شي او همدارنګه به بهرنیو ځواکونو او ملکیانو ته د صدمې رسیدو لامل شي.[97] که څه هم چې د ورځې له خوا په رښتیا هم سخت مقاومت امکان لري خو ایساف ځواکونه سره له دې چې له دوی څخه د مکررو غوښتنو سره سره، دوی تر اوسه کوم شواهد نه دي وړاندې کړي چې په تېرو وختونو کې له داسې کوم مقاومت سره مخ شوې وي. افغان ملي پولیس او د ملي امنیت ریاست په منظمه توګه د ورځې په اوږدو کې خلک توقیفوي، بې له دې چې له کوم سخت مزاحمت او مقاومت سره مخ شي.[98]
اکثره هغه خلک چې بندیان شوې دي، پېژندل شوي افراد او ځینې یې له دولت او نظامي ځواکونو سره په قوي ارتباط کې وو چې کیدلی شول په سوله ییزه توګه نیول شوي او بندیان شوي وای. دا ډول نیونې په دوو غټو مثالونو کې راغلي چې د ۲۰۰۹ کال په نومبر کې د الجزیرې دوه ژورنالیستان د شپنیو جلا عملیاتو په ترڅ کې توقیف او بندیان شوې دي.[99] ایساف ځواکونه ادعا کوي چې د الجزیرې ژورنالیستانو له خپلې وظیفوي حیطې پیښې ایستلې وې او پر ځای یې له طالبانو سره په مرکو کولو (لکه چې ټول ژورنالیستان یې کوي) له هغوی سره مرسته کوله. الجزیرې استدلال کاوه چې حتی که چېرته د دوی فعالیتونو د آیساف لپاره پوښتنې راپیدا کولې نو په کار نه وه چې د هغوی په کورنیو، ماشومانو او ښځو یې شپني عملیات ترسره کړي وای.
دواړو ژورنالیستانو د ایساف له خوا راجسټر شوی مطبوعاتي جواز درلود چې هغوی ته یې د ایساف نظامي مرکزونو ته په مطبوعاتي کنفرانسونو او یا د هغوی د مطبوعاتي افسرانو د بلنې پر بنسټ د ورتلو اجازه ورکړې وه. په داسې حال کې چې هغه ژورنالیست چې په غزني ولایت کې توقیف شوی ؤ، داسې وایي: " ما له امریکایي ځواکونو سره هرې ولسوالۍ ته سفر کړی دی.... ځینې وخت نړیوالو ځواکونو موټر ته د جزئي کار لپاره بلنه راکوله او موټر حتی که هلته ورتګ له خطره هم ډک ؤ لکه ( د پي ار ټي) مرکز ته خو

بیا هم ورتلو". نوموړي شخص وویل، که هغوی چېرته مونږ حتی د شپې له خوا خبرو اترو ته بللو نو په خوشالۍ ورتلو .[100]

د نیوني لپاره د جبري ورننوتلو څخه د سوله ییزو لارو په موندلو کې ناکامي[101] د اکثرو افغانانو له پاره چې خپل ژوند دشپنیو عملیاتو له خطر سره پیوست ویني، په بشپړه توګه بې مفهومه دي. د ۲۰۰۹ کال په نومبر کې نور عملیات چې په غزني ولایت کې د شپې له خوا ترسره شول ( د انند ګوپال ژورنالیست له خوا ثبت شوې دي) بهرني ځواکونه د دولت د یو مامور په کور شپني عملیات کوي چې په نتیجه کې د هغه د کورنۍ دوه غړي وژل کېږي او دوه نور یې توقیف کېږي. بهرنیانو کولی شول چې نوموړی شخص د ورځې له خوا د توقیف او بندي کولو د طرزالعمل په پام کې نیولو سره بې له کومې ستونزې له ځان سره یوسي. د هغوی د کورنۍ یو غړی ښاغلی قرار پوښتي چې " ایا هغوی باید زما د کاکا زوی وژلی وی؟ ایا زمونږ کور یې باید له منځه وړی وای؟ " دی زیاتوي: " هغوی پوهېدل چې رحمن چېرته کار کوي. ایا هغوی نه شوه کولی چې لږ تر لږه د ورځې له خوا د جلب د یوې ټوټې کاغذ سره راغلي وای؟ مونږ به رحمن اړ کړی وای چې له هغوی سره لاړ شي.[102]

## حقوقي اندیښنې: دبشري حقونو پلوی نړیوال قانون کم ضرره متبادلې لارې غواړي

د بشر پلوه نړیوال قانون (IHL) له مخې، د نظامي عملیاتو په پلان جوړونه کې باید ټول احتیاطي اقدامات په پام کې ونیول شي څو ملکي افرادو ته زیان اوښتنه بنده او یا لږ ترلږه ټیټې کچې ته ورسېږي.[103] د هغو عملیاتو ترسره کول چې د لاسته راوړنې اهمیت یې له هغو زیانونو سره متناسب نه وي چې له امله یې ملکي خلکو ته وراوړي، غیر قانوني دي او باید په زغرده بند او یا وځنډول شي.[104] کله چې دنظامي مقاصدو تر منځ د انتخاب حق شتون ولري، نو داسې هدف باید انتخاب شي چې لږ ترلږه د ملکي تلفاتو ضامن وي.[105] ملکي کسانو ته د عملیاتو په جریان کې هغه که د شپې وي او که د ورځې، دوه اړخیزه زیان اوښتنه حتمي ده خو که چېرته د دې عملیاتو کم زیان لرونکی بدیل شتون ولري چې د نظیامیانو ژوند هم له خطر سره نه مخ کوي، نو باید کار ترې واخیستل شي.

د بشر د قانون په متن کې یو شمېر ملاحظات هم شته چې که څه هم د بشرپلوه نړیوال قانون سره یې سمون روښانه نه دی، خو د وسله والې نښتې په شرایطو کې ترې کار اخیستل کېږي.[106] د بشري حقونو قانون لږ تر لږه د وسله والې داخلي نښتې په ترڅ کې د ملکي افرادو نیونې او بندي کولو ته مهم لارښودونه چمتو کوي چې په دې وسله والو نښتو کې د افغانستان روانه جګړه او نور هغه ځایونه هم شامل دي چې هلته امنیتي ځواکونه بشپړ کنټرول نه لري، لکه د جګړه مارو دولتونو اشغال شوې سیمې.[107] په داسې حالاتو کې د بشري حقونو قانون د عملیاتو په اړه د قانون له لازمي پلي کولو سره تړلی دی. چې د متبادلو تکتیکونو لزوم، د نښتې د قوانینو رعایت او د ځواک د استعمال لپاره ځانګړي معیارونه په کې لازم دي. په ځینو نورو داسې شرایطو کې چې کیدی شي د توقیف لپاره په کې بل میتود نه وي، له ساده متبادلو لارو ګټه نه اخیستل لکه نظامي هډې ته د الجزیره ټلویزیون خبریالان رابلل، چې دا کار

پخوا هم ترسره کیدو حقوقي پوښتني رامنځته کوي چې ایا د ایساف او اکثره د عملیاتو ځانګړي ځواکونه په شپنیو عملیاتو کې د ملکي افرادو د خطرونو د کموالي مسؤولیت ته په سیستماتیکه توګه پاملرنه نه کوي؟

## ص. د شپنیو عملیاتو کمولو او یا بندولو په اړه د افغانانو غوښتنو ته د نه پاملرنې پایلې

سره له دې چې د افغانستان د خلکو او دولت اندیښنو ته د پاملرنې په اړه پاموړ اقدامات شوي، خو د شپنیو عملیاتو په اړه د افغانانو لیدلوری په پاموړ توګه منفي دی. لکه څنګه چې پورته هم وویل شول د دې کار یو دلیل ځینو جنجالي پېښو ته په رسیدنه کې سستي ده. افغان دولت په دې باور د ی چې د مجوزې نوتنې په پروسه کې پوره اصلاحات نه دي رامنځته شوي. افغاني ټولنې اوس هم تشویش لري چې په شپنیو حملو کې هغه څه چې دوی پرې اعتراض لري، لکه د دوی پر شخصي حریم د پردیوتجاوز، له سپیو ګټه اخیستل او د خپلو خپلوانو د برخلیک په اړه د خلکو بې خبري اوس هم په همغه زاړه ډول پاتې ده. خو له شپنیو عملیاتو څخه د خلکو د نفرت پاموړ توضیح د تکتیکي عملیاتو په وړو میتودونو کې بې غېزمنتوب نه دی، بلکې د ایساف له خوا د شپنیو عملیاتو د بدیل نه پلټل دي. د ایساف له خوا د شپنیو عملیاتو د کمولو لپاره د خلکو د پراخو غوښتنو په پام کې نه نیول، د مرض د نښو موندنه ده، نه په خپله د مرض موندنه. تر څو چې دا موضوع په بنسټیزه توګه حل نه شي، حتی هغه ټولې مسألې ونه منل شي چې د کلتوري او مذهبي حساسیت پارونې لامل کېږي، د شپنیو حملو په اړه د عامو افغانانو ملاتړ نه شي ترلاسه کولی. له سپیو استفاده کول او د بهرنیو ښځو له خوا د افغانو ښځو په تالاشي کولو کې د پخوا په پرتله ښه والی راغلی دی او کیدای شي په دې برخه کې د شکایتونو د کموالي لامل شي خو د افغانانو د هغه لومړیتوب بدیل نه شي شمېرل کیدی چې په دې بنسټ ولاړ دی چې شپني عملیات دې یوازې د یو استثنایي اقدام په توګه وکارول شي.

افغان دولت هم د خپلو نړیوالو همکارانو سره د شپنیو عملیاتو په اړه متفاوت لیدلوری لري. د شپنیو عملیاتو په اړه د ولسمشر کرزي په شمول د افغان لوړپوړه چارواکو ضدیت خپلې وروستۍ انتها ته رسیدلی دی. د شپنیو عملیاتو په اړه په شخصي او خصوصي مجلسونو کې د امریکا پر متحده ایالتونود افغان چارواکو په ټینګار سره انتقاد د حکومت د یوې رسمي غوښتنې بڼه غوره کړې ده. دا په عملیاتو کې د نه همغږۍ په اثر د مکررې نهیلۍ یو ډول نتیجه ده خو همدارنګه په پراخه توګه د امریکا د نظامي ستراتیژۍ د نه ملاتړ څرګندویه ده، ځکه چې افغان چارواکي پر پاکستان باندې د فشارونو د زیاتولو غوښتونکي دی ترڅو هلته د مخالفینو پناځایونه وتړي او د یوې سیاسي حل لارې په لټه کې شي.

په دې برخه کې په شپنیو حملو کې عامو خلکو ته درانه تلفات د افغان مشرانو لپاره په سختۍ سره د توجیه وړ دي. د افغانستان د اندیښنو د لیرې کولو لپاره، د شپنیو عملیاتو د اجازې ورکولو په مرحله کې زیات کنټرول او دخالت ورکول چې په دې باور دي چې

په روانه پالیسی کې شپني عملیات مرکزي ګڼل افغانان د نه منلو په لاره کې واقع کوي، په هیڅ ډول کافي نه دي.

## نتیجه او وړاندیزونه

د ۲۰۱۰کال له فبروری راپه دې خوا یعنې کله چې TLO او OSF د شپنیو حملو په اړه د خپلې څېړنې لومړی برخه خپره کړه، تکتیکي تغیرات او عملیات چې په دوو تکتیکي لارښودونو کې شامل ورسره یې ټول مؤقت لارښودونه او له شپنیو عملیاتو سره ډېر افغاني مخالفتونه وڅېړل. د شپنیو حملو په ترسره کولو کې ښه والی راغلی، په ملکي تلفاتو، د نیونې په وخت بد چلندیو او د شتمنیو په تخریب کې کموالی راغلی دی. افغان ځواکونه په شپنیو حملو کې ډېر دخیل دي چې دا په خپله د اندیښنو، بدګومانیو او فرهنګي سرغړاویودزیاتوالي د مخنیوي لامل شوی دی. په دې موده کې په شپنیو عملیاتو کې د ښځو د څورونې په اړه هم کم رپورټون ورکړل شوې دي.

په داسې حال کې چې دا ښه والی مهم دی خو شپنۍ حملې زیاتې شوې دي او لاسته راوړنه یې (د مخالفینو د حملو کمښت) تر اوسه نه دی ښکاره شوی.[108] شواهدو ښيي چې په شپنیو او نورو ټولو حملو کې پاوړ زیاتوالی چې ممکن د استخباراتي معلوماتو راټولولو په خاطر اکثره ملکي افراد هدف وګرځوي، افغانانو ته د دې عملیاتو زغمل ستونزمن دي. د شپنیو عملیاتو پر وړاندې د افغانانو جګړه ییز غبرګون که ډېر شوی نه دی، نو کم شوی هم نه دی. د شپنیو حملو پر بنسټ راولاړه شوې غوسه یوازې دا نه چې هغه هڅې خړې پړې کوي چې په شپنیو حملو کې د ښوالي په برخه کې پامور دي، بلکې د ایساف او امریکا د متحده ایالتونو په ټولو هغو هڅو اغېز کوي چې تر اوسه یې د ملکي تلفاتو او د افغانانو د اندیښنو د راکمولو په اړه ترسره کړې دي. دا موضوع هغه ټولې هڅې تر اغېز لاندې راولي او کمرنګه کوي یې چې د نړیوالې ټولنې تر ملاتړ لاندې دافغانستان پر دولت د افغانانو د اعتماد رامنځته کولو لپاره شوې دي.

دې موضوع په ستراتیژیکه سطحه زیاتوالی موندلی چې په جدي توګه د امریکا د متحده ایالتونو سره د افغان دولت اوږدمهاله اړیکې کمزورې کوي. ولسمشر کرز ي په دوامداره توګه ″ په ترخو الفاظو د خلکو پر وړاندې پر نړیوالو ځواکونو نیوکې کړې دي او په کلکه یې د شپنیو عملیاتو او د خلکو په کورونو د حملو د بندولو غوښتنه کړې ده او نړیوال ځواکونه یې د دوستانو او ملو ژمنو پر ځای له یرغلګرو سره تشبیه کړې دي.[109] د یو شمېر معلوماتو له مخې کرزی دا غوښتنه د خپل هیواد د حاکمیت لپاره یوه کلیدي مسأله ګڼي چې د شپنیو حملو بندول یا لږ تر لږه د افغانستان د دولت له خوا د دې حملو ډېر کنټرول د ستراتیژۍ د اوږدمهالې همکارۍ د مذاکراتو لپاره پامور اغېزې کولی شي.[110]

د عوامو په نظر په ارزونه کې د شفافیت نیشتوالي ته په پاملرنې د شپنیو حملو لپاره اوسنی کمپاین ستونزمن کار دی. د امریکا متحده ایالات او ایساف په تېر کال کې شپني حملات تر ټولو بریالی تکتیک ګڼي او بندول یې ستونزمن او د مخالفینو د پامور حملو لامل یې ګڼي. په داسې حال کې چې تر اوسه یې هیڅ داسې مدرک نه دی وړاندې کړی چې د دوی دا ادعا ثابته کړي او د دې ترځنګ د

شپنیو حملو په زیاتیدلوسره په همغه اندازه د مخالفینو حملې هم زیاتې شوې دي.[111]
خو که چیرته فرض کړو چې دارپورټونو له مخې دې شپنیو حملو ښې لاسته راوړنې هم لرلې وي نوري د افغانستان د خلکو او دولت لپاره د زغم وړ نه دي. د شپنیو حملو په اړه هغه تغیرات او ملاحظات چې تیر کال وضع شول که هرڅومره د ملاحظې وړ وو خو تولیز خپګان او نارضایتي یې لیرې نه کړه. که څه هم نظامیانو ته ورته افراطي ډلې په افغانستان کې د بشري حقونو او امنیت لپاره یو ستر ګواښ دی خو هغه انساني ، سیاسي او ستراتیژیک ارزښت چې په دې رپورټ کې یې تصویر ښودل شوی دی دا انسان په ذهن کې دا پوښتنه راولاړوي چې ایا په شپنیو حملو باندې افراطي باور د مخالفینو د ګواښ له منځه وړلو لپاره تر ټولو اغیزمنه اوږدمهاله ستراتیژي ده؟

# د امریکاد متحده ایالتونو ځواکونو( ISAF )ته سپارښتنې

1 - هغه عملیات ودروئ چې د جنګي افرادو او عامو خلکو تر منځ توپیر ونه کړای شي. ځان ډاډمن کړئ چې شپني عملیآت، چې نظامي عملیات دي، یوازې د جنګي افرادو یا هغو ملکي افرادو پر خلاف ترسره کیږي چې په مستقیمه توګه په جګړه کې برخه لري. شپني عملیات وځیرئ او ویې پلټئ څو ډاډمن شئ چې د عملیاتو هدف ملکي افراد نه دي.
2- ځان ډاډمن کړئ چې شپني عملیات، په ځانګړې توګه په شپه کې ډله ییزې نیونې، د جګړې پر بنسټ خلک تر هدف لاندې راولي، نه د سن، جنسیت، قوم او قبیلې، قومي اړیکي یا جغرافیوي موقعیت (سمت) پر بنسټ.
3- ځان باوري کړئ چې شپني عملیات یا نور نظامي تمرینونه جنایي قضیو ته د رسیدو یا د اطلاعاتو راټولولو لپاره بل کوم میتود نه دی. ځان مطمئن کړئ چې هغه عملیات چې د غیر محاربو افرادو د نیونې لپاره ترسره کیږي د وسلې او قوې د قانوني استعمال له معیارونو سره سم دي.
4- په تاکتیکي لارښودونو کې شامل مواد د امکان تر حده د نیونې لپاره د بدیلې لارې د لټولو په خاطر وکاروئ. هغه نیونې چې د قانون د پلې کیدو له معمولو میتودونو سره سمې وي په داسې سیمو کې غوره ګڼل کیږي چې په هغو کې د دولت قوي کنټرول وي او یا په هغو سیمو کې چې افغاني شریکان (د افغانستان دولت) د ډیرو منظمو نیونو د ترسره کولو لپاره پیاوړی ظرفیت ولري.
5- د شپنیو عملیاتو د سمون په برخه کې د موجوده لارښودونو کارونې ته دوام ورکړئ چې د ملکي تلفاتو د کمولو لپاره یې مطلوبه نتیجه ورکړې وي.
6- له عملیاتو مخکې او وروسته د امکان تر حده له محلي ټولنو سره اړیکې او مشورې زیاتې کړئ.

7- په شپنیو عملیاتو او د ترسره شویو عملیاتو په اړه چې ملکي افراد په کې هدف ګرځیدلي وي، په موجوده معیارونو کې شفافیت ډېر کړئ. حساب ورکوونکي شئ او د نیول شویو کسانو کورنیو ته د هغوی د حالت د څرنګوالي په اړه معلومات ورکړئ او همدارنګه د ملکي تلفاتو په اړه د څېړنو د نتیجو په اړه معلومات خپاره کړئ.

8- د شپنیو عملیاتو له کبله د اوښتو زیانونو د جبیرې او همدارنګه د هغو زیانونو د تاوان معیارونو ته وده ورکړئ چې په تېروتنې سره په کې خلک نیول شوې وي.

9- د افغان امنیتي ځواکونو سره د حساب ورکولو په برخه کې کار وکړئ ، په ځانګړې توګه له هغو ځانګړو افغان ځواکونو سره چې د قدرت د انتقال تر دورې وروسته به په شپني عملیاتو کې رغنده رول ولري.

10 – ځان ډاډمن کړئ چې ملیشې یا نورې غیر منظمې قواوې ، د هغوی د نه ژمنتوب، کمزورې حساب ورکونې او بدې سابقې په پام کې نیولو سره له شپنیو عملیاتو څخه د خلکو د ځورونې لپاره کار وانه خلي.

---

[1] *Strangers at the door: Night raids by international forces lose hearts and minds of Afghans*, Open Society Institute & The Liaison Office, February 23, 2010, [hereinafter: Open Society Institute & The Liaison Office, *Strangers at the door*] http://www.soros.org/initiatives/washington/articles_ publications/publications/afghan-night-raids-20100222.

